د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۴ لمریز کال

لومړی راپور



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

**(د ۱۴۰۴ ل کال لومړی تحلیلي راپور)**


**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

د کابل ارغندۍ ټرانسپورټي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته ........................................ ۱

د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو قراردادونه ... ....... ۸

اقتصادي کمېسیون د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسوده تایید کړه ........................................ ۱۶

د اقتصادي کمېسیون له لوري په هرات کې د بام هرات تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه... ......... ۲۴

د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړه شوې لار نقشه ... ... ۳۲

کندهار، زابل، هلمند او ارزګان ولایتونو کې د برېښنا څلورو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې ... .... ٤۱

کازان اقتصادي فورم کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون ................................ ۵۱

په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې چارې پیل شوې ........................... ۵۹

د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو ........................................ ٦۷

په هرات کې د برېښنا دوې پروژې پرانیستل شوې........................................ ۷٦

# د کابل ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته



## سریزه:

افغانستان کې د اشغال او د تېرې اداري د بې کفایتۍ له امله ګڼو ستونزو ته د حل لاره و نه موندل شوه. د هېواد د ترانسپورټ سکټور هم له هغو برخو څخه و چې په تېر کې ورته کافي توجه و نه شوه او هغومره چې لازمه وه، لویو لارو او سړکونو ته پراختیا ور نه کړل شوه. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ترانسپورټي سکټور پراختیا او بیارغونې ته ډېره توجه کړې. په همدې موخه یې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کورني اتصال د پیاوړتیا او اقتصادي ودې د ګړندي کولو په موخه د سړکونو پراختیا او د نویو لویو لارو د جوړولو چارې پیل کړې دي. د دې له پاره چې د هېواد ترانسپورټي چارې لا منظمې او نامنظمې ترانسپورټي شبکې یو واحد ځای ته راټولې شي، نو د ترمینلونو جوړېدل یوه اړتیا وه. اسلامي امارت دغه اړتیا درک کړه او د هېواد د ترانسپورټي سیستم د ښه منظم کېدو په موخه یې د ځینو ترمینلونو د جوړېدو چارې پیل کړې دي. له دغو ترمینلونو څخه یو هم په کابل ولایت کې د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل دی چې د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې جوړېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وري په دربیمه نېټه د یاد ترمینل د جوړېدو د چارو پرانیسته وکړه. د پرانیستې مراسمو کې د ترانسپورټ او هوایي چلند سرپرست وزیر محترم ملا حمیدالله اخوندزاده، د خصوصي سکټور استازو او د سیمې یو شمېر اوسېدونکو هم حضور درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ترانسپورټي زېربنا د پراختیا په برخه کې د ارغندی ترانسپورټي ترمینل جوړول مهم وبلل او ویې ویل چې د ترانسپورټي زېربناوو معیاري رغول او پراخول د هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او سیمه‌ییز اتصال له پاره ډېر مهم او اساسي ګام دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ترانسپورټي او مواصلاتي زېربناوو کې پانګونه، د غصب شویو عامه ملکیتونو بېرته راګرځول، د سړکونو او لارو د اصلي حریم تشخیصول او رغول د اسلامي امارت له اساسي او مهمو ملي موخو څخه وګڼل.


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د عصر اړتیاوو ته په کتو نه یوازې د ترانسپورټي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کې کلک هوډ لري، بلکې د نورو اساسي ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

## د کابل ارغندی ترانسپورټي ترمینل د پروژې پرانیستلو موخه:


د هېواد اقتصادي وده او د داخلي او سیمه‌ییز اتصال پیاوړتیا او پراختیا.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د کابل ارغندی ترانسپورټي ترمینل د پروژې پرانیستلو» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: امارتي رسنۍ**




**ب: خصوصي رسنۍ**



## د امارتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کابل ارغندی ترانسپورتي ترمینل د چارو د پیل پرانیستي راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### ویب پاڼې




## اژانسونه





## ویاندویان




## توېترپاڼي





## په اماراتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## اژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د کابل ارغندۍ ترانسپورتې ترمینل د پروژې پرانیستلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۵۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۳۷ مثبت دي. ۱۲ منفي نظرونه او ۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۵،منفي نظرونه ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪دي.

۲. د کابل ارغندۍ ترانسپورتې ترمینل د پروژې پرانیستلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦۱۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۲۵ مثبت، ٦۰ منفي او ۲۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸٦٪، منفي نظرونه ۱۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸٦ ده. همدارنګه په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۰ او ۴، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۳ او ۲ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۸٦۲ مثبت نظرونه، ۷۲ منفي نظرونه او ۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰ ٪ مثبت نظرونه، ۷ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده. د نظرونو شمېر لسګونه نه؛ بلکې سلګونو ته رسېږي.

- هغه هیله چې افغان ولس ورته له مودې راهیسې په تمه و، اوس یې په ربښتیني ډول ننداره کوي، زما په اند د ډېرو له پاره دا خیال و، خو اوس چې دغه حقیقت ګوري، نو انرژي اخلي او لا لیواله کیږي چې حکومت سره لا همکار او همغږي اوسي.
- فابریکې جوړې کړئ، چې د خلکو لومړنۍ اړتیا ده.
- خدای دې وکړي، چې کارونه یې په معیاري ډول پر مخ لاړ شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** د اکثریت هېوادوالو له نظره، د ارغندي ترمینل د چارو پیل هغه هیله وه، چې افغان ولس ورته له ډېرې مودې راهیسې په تمه و. د ډېرو له پاره دا پروژه یو خیال و، خو اوس په حقیقت بدلېږي او ولس لېواله کېږي چې حکومت سره نوره همکاري او همغږي وکړي. نورو هېوادوالو ویلي، د ارغندي ترمینل د چارو پیل یو ښه کار دی، د ولس او هېواد خدمتګارانو ته نور توفیق غواړو. واقعیت دا دی، چې اسلامي امارت له راتګ وروسته د هېوادوالو ګڼ خوبونه ریښتیا شوي او د ارغندي ترمینل په څېر ګڼې هغه پروژې یې پیل کړې، چې هېوادوالو یې تمه درلوده. کله چې حکومت په خپلو کړنو کې د ولس غوښتنو ته توجه وکړي، ولس له حکومت سره همکاري کوي. اسلامي امارت په خپلو برنامو کې د ولس غوښتنې منعکس کړې، همدا لامل دی چې ولس له اسلامي امارت سره ډېره همکاري کوي او دا همکاري ورځ تر بلې د زیاتېدو په حال کې ده.

☜ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو ویلي، پروژې هره ورځ پرانیستل کېږي، خو پای یې نه مالومېږي. نورو بیا ویلي، چې هېواد مو اوس وخت کې فابریکو جوړولو ته اړتیا لري، څو خلکو ته د کار زمینه برابره شي او اقتصادي وضعیت ورسره ښه شي. د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې ګڼې نوې پروژې پیل شوې او ځینې داسې پروژې هم پیل شوې، چې کارونه یې نیمګړې پاتې وو. اسلامي امارت تر اوسه ګڼې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارلې دي. یوازې تېر ۱۴۰۳ کال کې د بندونو په برخه کې د شاه و عروس او عمري بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. اسلامي امارت د کارونو پیل او پای ته رسولو ته ژمن دی او ټوله هڅه یې کړې، چې پیل شوي کارونه په ټاکلي وخت بشپړ کړي. اسلامي امارت د فابریکو جوړولو او په دې برخه کې زمینې برابرولو ته پوره توجه کړې ده. د بېلګې په ډول، یوازې په تېر کال کې د درملو جوړولو او اوسپنې تولید په برخه کې په کابل او ولایتونو کې یو شمیر فابریکو فعالیتونه پیل کړل، چې دا ډول فابریکې د کاري فرصتونو په ایجاد او داخلي عوایدو په لوړوالي کې مهم رول لوبوي. په دې اساس، اسلامي امارت هم نوې پروژې پیل او بشپړوي او هم د کاري فرصتونو د ایجاد په موخه فابریکې پرانیزي.

## پایله:

د کابل ارغندي ترمینل د چارو پیل د هېواد د ترانسپورټي شبکې د تنظیم په برخه کې یو مهم ګام دی. د دغه ترمینل له لارې به نه یوازې مسافرو، سوداګرو او موټر چلوونکو ته اسانتیاوې رامنځته شي، بلکې د هېواد داخلي اتصال به ورسره پیاوړی شي، ترانسپورټي لګښتونه به راکم او کاري فرصتونه به هم ایجاد کړي. په امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو نظرونه ښیي چې هغوی د اسلامي امارت له لوري د کابل ارغندي ترمینل پرانیسته یو ښه پرمختګ بولي او له اسلامي امارت څخه مننه کوي، چې د هېوادوالو خوبونه په واقعیت بدلوي.

# د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو قراردادونه لاسلیک شول



## سریزه

افغانستان کې  د برېښنا کمښت یوه ستونزه ده، خو له نېکه مرغه چې هېواد مو د برېښنا د تولید ډېر باالقوه ظرفیت لري او کولی شو چې له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید له پاره ترې استفاده وکړو. په تېر کې د برېښنا د تولید له پاره ډېره توجه نه وه شوې او ډېره تکیه په وارداتي برېښنا کېده. اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان په وارداتي برېښنا له تکیې څخه خلاص کړي. د افغانستان اسلامي امارت په وروستیو څو کلونو کې د هېواد له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید له پاره هلې ځلې کړې او په دې برخه کې یې د اوبو، باد، ګازو او لمریزې برېښنا په برخه کې پروژې پلې او ځینې یې په نظر کې نیولې دي، څو له یو لوري هېوادوالو ته د ژوند په بېلابېلو برخو کې اسانتیاوې برابرې شي او له بل لوري په هېواد کې د اقتصادي فعالیتونو پراختیا ته زمینه برابره شي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په اوومه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور تر منځ د برېښنا تولید د اوو او د برېښنا انتقال د درېیو پروژو قراردادونه لاسلیک شول. د برېښنا تولید په اوو پروژو کې په بلخ ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په هرات ولایت کې د


پنځه میګاواټه لمریزي برېښنا، په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزي برېښنا، په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا د لومړي فاز ۴۳.۲ میګاواټه برېښنا، په لوګر ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په ننګرهار ولایت کې د ۴۰.۲۵ میګاواټه لمریزي برېښنا، په جوزجان ولایت کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا پروژې شاملې دي چې د برېښنا مجموعي ظرفیت یې ۲۲۸.۴۵ میګاواټو ته رسېږي. د برېښنا د انتقال په پروژو کې بیا د کندهار ولایت ختیځ برېښنا کوټ او د زابل ولایت د قلات برېښنا کوټ جوړولو او له کجکي تر کندهار پورې د ۱۱۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو پروژې شاملې دي. د یادو پروژو د تطبیق لپاره کورني او بهرني خصوصي شرکتونه ۲۰.۷ میلیارده افغانۍ پانګونه کوي چې چارې به یې په معیاري ډول پر ټاکلي وخت بشپړې شي.

## د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو د قراردادونو د لاسلیکېدو موخه:

هېوادوالو ته د برېښنا برابرول او په ټوله کې اقتصادي وده

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې« د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو د قراردادونو د لاسلیکېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ۲۰.۷ ميليارد افغانيو په پانګونې سره د برېښنا د توليد او انتقال پروژو د قراردادونو د لاسليکېدو راپور يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### ويب پاڼې




## ټوېټرپاڼې




## ویاندویان





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## اژانسونه





## ورځپاڼې




## په خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو قراردادونو د لاسلیکېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۹۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۵۹ مثبت دي.۲۳ منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۴.۵،منفي نظرونه ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱.۵ ٪دي.

۲. د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو قراردادونو د لاسلیکېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۵۷ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۵۳ مثبت، ۷۱ منفي او ۳۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸٦٪، منفي نظرونه ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴.۵ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸٦ ده. همدارنګه په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۹ او ۵، خو په امارتي رسنیو کې ۴ او ۱.۵ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۱۲ مثبت نظرونه، ۹۴ منفي نظرونه او ۴۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰ ٪ مثبت نظرونه، ۷ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده. د نظرونو شمېر لسګونه نه؛ بلکې سلګونو ته رسېږي.

- په افغانستان کې، چې پراخه د اوبو زېرمې لري، د لمریزې برېښنا پر ځای د اوبو پر برېښنا پانګونه نه کول یوه تېروتنه ده. افغانستان نه یوازې د هندوکش له غرونو پریمانه اوبه لري، بلکې د دې اوبو د تنظیم او تولید ظرفیت هم لري، خو له بده مرغه، د سیاسي او اقتصادي ناسمو پالیسو له امله دا شتمني نه ده کارول شوې.

- ماشاءالله. الله دې نور هم توفیق ورکړي. یو هېواد په درېیو شیانو ډېر ژر ابادېږي، لومړی برېښنا، دویم، تېل او درېیم، ګاز.
- برېښنا په افغانستان کې لومړیتوب لري. افرین، اصلي کار همدا دی. برېښنا چې وي، ټول مشکلات حل کېږي.
- په هر ولایت کې پرېمانه اوبه دي، ولې له هغو برېښنا نه جوړېږي، لمریزه یا سولري برېښنا ډېر وخت دوام نه کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې د لمریزې برېښنا پر ځای دې له اوبو څخه برېښنا جوړه شي، څکه افغانستان د اوبو کافي سرچینې لري. واقعیت همدا دی چې افغانستان د اوبو کافي سرچینې لري چې کېدلی شي د اوبو برېښنا او کرنې برخه کې ترې ګټه واخیستل شي. په افغانستان کې د اشغال له امله کافي وده او واقعي اقتصادي پرمختګونه رامنځته نه شول، خو له کله چې د افغانستان اسلامي امارت واک ته رسېدلی او هېواد کې بهرنی اشغال ختم او ارامي راغلې، نو په دې برخه کې ښه فرصتونه رامنځته شوي دي. اسلامي امارت له همدې فرصت څخه په استفادې د هېواد له اوبو څخه د سالمې ګټې اخیستنې په موخه په بېلابېلو ولایتونو کې د برېښنا د تولید له پاره د بندونو جوړول پیل کړي، ځینې یې ګټې اخیستنې ته هم سپارل شوي او ګڼ نور په پلان کې دي چې راتلونکي کې به یې چارې پیل شي. خو له بلې خوا، په ټوله نړۍ کې له لمریزې برېښنا څخه استفاده هم دود ده او هېوادونه د خدای تعالی له ورکړې نعمت څخه استفاده کوي، څکه د لمریزې برېښنا پروژو چارې په لږ وخت کې پای ته رسېږي او ګټه اخیستل ترې ژر ممکن کېږي. په داسې حال کې چې د اوبو بندونه جوړول ډېر وخت نیسي. په دې اساس، اسلامي امارت د هېواد اړتیا ته په کتو هم له لمریزې برېښنا استفاده کوي او هم په پلان کې لري چې په هېواد کې د اوبو لوی، متوسط او کوچني بندونه جوړ کړي، څو هېواد کې د اړتیا وړ برېښنا تولید او پر مټ یې اقتصادي وده ګړندۍ شي.

☜ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې د اوبو په برخه کې د اسلامي امارت هڅې ستایلې او ویلي یې دي چې برېښنا د هېوادوالو ډېرې ستونزې حل کوي. په نني عصر کې برېښنا د ژوند له پاره یو له مهمو او ضروري اړتیاوو څخه ګڼل کېږي او برېښنا ده چې د انسان ژوند کې یې لوی بدلونونه او اسانتیاوې رامنځته کړې دي. برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېره مهمه ده. که یو هېواد کافي برېښنا ولري، نو ګڼ اقتصادي فعالیتونه به په کې رامنځته شي. فابریکې چې د یو هېواد صنعتي پرمختګ کې مهم رول لوبوي، له برېښنا پرته یې چلېدل ممکن نه دي. اسلامي امارت د هېوادوالو له پاره د اسانتیاوو برابرول او د هېواد صنعتي پرمختګ خپل مسوولیت ګڼي او په دې برخه کې خپلې ټولې هڅې کوي. کله چې په هېواد کې برېښنا او بیا صنعتي فعالیتونه زیات شي، نو کاري فرصتونه ایجادېږي او ډېر شمېر

کسان په کار بوختېږي. اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې له منځه وړلو له پاره کافي هڅې کوي او په دې برخه کې یې د برېښنا د تولید او صنعتي فعالیتونو د پراختیا له پاره مناسب چاپېریال برابر کړی دی.

## پایله

افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ ورځې لمر لري چې دا د لمریزې برېښنا د تولید له پاره کافي دي. اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزې د حل له پاره له بېلابېلو لارو په استفادې غواړي چې دغه ستونزه حل کړي. د برېښنا کمښت د ستونزې یوه حل لاره د بندونو جوړول دي او اوسمهال یې یوه اسانه، لږ لګښت لرونکې او په لږ وخت کې بشپړېدونکې لاره د لمریزې برېښنا تولید دی.

اسلامي امارت غواړي چې په هېواد کې د اوبو تر څنګ. لمریزه برېښنا هم تولید کړي. تولید شوې برېښنا صنعتي ښارګوټو ته ورکړي، څو په هېواد کې صنعتي فعالیتونه زیات شي، چې په دې سره به په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد او د بېکارۍ کچه به ورسره راکمه شي. دغه‌راز، اسلامي امارت هڅه کوي چې د ټولو هېوادوالو کورونو ته برېښنا ورسوي، څو یې ژوند کې اسانتیاوې رامنځته شي.

# اقتصادي کمېسیون د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسوده تایید کړه



## سریزه

د یو هېواد د هر اړخیز پرمختګ له پاره منظم پلان او برنامه لرل ډېر مهم دي. که کارونه د یو منظم پروګرام له مخې پر مخ لاړ شي او فرصتونه، ستونزې، سرچینې او د سرچینو کارول له وړاندې تشخیص شي، نو وروسته کارونو کې به ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي او هېواد به د یو واضح پروګرام او پلان له مخې منظم پرمختګ وکړي.

د دې له پاره چې حکومتونه خپلې چارې په سم او روښانه لوري پر مخ یوسي، نو یو لړ سندونه چمتو کوي او بیا د هماغو سندونو په تعقیبولو سره خپلو ټاکل شویو اهدافو ته ځان رسوي. په دې کې یو سند ستراتېژي ده چې اوږدمهاله موخې په کې مشخص او واضح کېږي او حکومتونو ته یوه روښانه او منظمه لاره برابروي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري د افغانستان ملي پراختیا پنځه کلنه ستراتیژي جوړه شوه.

دغه ستراتیژي د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه کې تایید شوه. غونډه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته د ملي پراختیا ستراتیژۍ مسوده د بحث له پاره وړاندې شوه، چې له هر اړخیزې ارزونې وروسته او د اقتصادي کمېسیون له لوري د راغلو تعدیلاتو په پام کې نیولو سره تایید شوه.

د ملي پراختيا ستراتيژۍ مسوده هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو له پاره د هېواد د بنسټيزو ملي موخو د تعيين او ترلاسه کولو په پار د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت په مشرۍ، د اقتصاد وزارت په سکرتريت او د اړوندو سکټوري وزارتونو په ګډه همکارۍ چمتو شوی دی. دغه ستراتيژي د يوه باثباته، هوسا او له سيمې او نړۍ سره په ښو اړيکو سمبال افغانستان ليدلوری لري چې موخې يې (د اسلامي شريعي قانون ټينګښت، د موثريت، روڼتيا او حساب ورکونې اصل تأمينول، د سيمې او نړۍ سره د اغېزناکو او نېکو اړيکو پراختيا، د پايښت لرونکې سولې او عمومي امنيت ټينګښت، کارموندنه او اقتصادي وده، د ديني او ملي ارزښتونو، ارضي تماميت او اسلامي حاکميت ساتنه، د ملي او طبيعي سرچينو د مديريت موثريت لوړول، د بنسټيزو خدمتونو د عرضې ښه‌والی، د صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور وده، د زېربنا پراختيا او سيمه‌ييز اتصال، د ټولنيز خونديتوب او د ژوند چاپېريال ښه والی) ښودل شوې دي.


ياده مسوده د منظورۍ په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی دفتر ته استول شوې ده.

## د ملي پراختيا ستراتېژۍ مسودې موخه:


راتلونکو پنځو کلونو له پاره د هېواد د اساسي ملي موخو ټاکل.

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د ملي پراختيا ستراتېژۍ مسودې د تاييد» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني د سلنې مجموعه:





### يادونه:

پـه دغـه ګـراف کې پـه هغـو امـارتي او خصوصي رسـنيو کې د خلکـو د نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چې د مـلي پراختيا سـتراتيژۍ د مسـودې د تاييـدۍ خـبر يـې پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.


## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### ويب پاڼې




## آژانسونه





## ویاندویان




## ټویټرپاڼي





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزوني ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګاني




## اژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ.

۱. د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسودې د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٦۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۹۳ مثبت دي. ۴۴ منفي نظرونه او۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۸۹،منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪دي.

۲. د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسودې د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او

وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۰۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۴۶ مثبت، ۴۰ منفي او ۱۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۱٪، منفي نظرونه ۲۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۱ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۲۰ او ۹، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۷ او ۴ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۳۹ مثبت نظرونه، ۸۴ منفي نظرونه او ۴۶ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۵ ٪ مثبت نظرونه، ۱۰ ٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده. د نظرونو شمېر لسګونه نه؛ بلکې سلګونو ته رسېږي.

- که د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسوده نشر شي، نو مثبت تاثیر به ولري.
- که د ملي پراختیا ستراتېژي عملي او تعقیب شي، نو د هېوادوالو وضعیت به بدل شي.
- د افغانستان پرمختګ په کورنۍ او بهرنۍ پانګونې پورې تړلی دی.
- د افغانستان اساسي مشکل بې وزلي ده، که امارت دې وضعیت ته توجه وکړي، ښه پایله به ورکړي.
- له اسلامي امارت څخه تمه کېږي چې د هېوادوالو د اقتصاد ښه کېدو له پاره به ښې برنامې ولري.
- د افغانستان د اقتصادي بحران حل لاره له نړۍ او سیمې سره مؤثرې اړیکې لرل دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې د ملي پراختیا ستراتیژۍ مسوده دې نشر، عملي او تعقیب شي. د دې هېوادوالو په ځواب کې باید ووایو چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی دفتر ته استول شوې، د شیخ صاحب حفظه الله تعالی لوري تر منظورۍ وروسته به له

هېوادوالو سره شریکه شي. هېوادوال به د یادې ستراتېژۍ له لوستلو سره د هېواد د اقتصادي پرمختګ او ښېرازۍ له پاره د اسلامي امارت له برنامو خبر شي او ورته معلومه به شي چې اسلامي امارت د هېواد اقتصادي ودې له پاره ښې برنامې او کلک هوډ لري. اسلامي امارت د نورو برنامو په عملي کولو او تعقیبولو کې خپل جدیت ثابت کړی دی. هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې د نورو برنامو او پروژو په څېر به د ملي پراختیا ستراتېژۍ په عملي کولو او تعقیبولو کې هم له جدیت څخه کار واخیستل شي. ځکه دا یو داسې سند دی چې د هېواد د اقتصادي ودې او نورو بېلابېلو اړخونو له پاره په کې جامع او واحده تګلاره وړاندې شوې او د هېواد له پاره په کې اساسي ملي موخې ټاکل شوې دي. د دغې ملي ستراتېژۍ په پلي کولو سره به هېواد لا نور باثباته او هوسا شي او د هېوادوالو ډېرو ستونزو ته به د پای ټکی کېږدي. لکه څرنګه چې د ملي پراختیا ستراتېژۍ په موخو کې د کارموندنې، اقتصادي ودې، د زیربناوو پراختیا او سیمه ییز اتصال، د طبیعي او ملي سرچینو مدیریت کې د مؤثریت زیاتوالی او نور شامل دي؛ نو د یادې ملي ستراتېژۍ په عملي کېدو سره به مو هېواد کې اقتصادي ښېرازي او پرمختګونه رامنځته شي.

☜ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د افغانستان پرمختګ له کورنۍ او بهرنۍ پانګونې سره تړلی دی او له اسلامي امارت څخه یې د هېوادوالو د اقتصادي وضعیت ښه کېدو له پاره د ښو برنامو غوښتنه کړې ده. دا د لمر غوندې روښانه ده چې یو هېواد هغه مهال پرمختګ کولی او اقتصادي وده په کې رامنځته کېدلی شي چې په هغه کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه وشي. د اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې له لسیزو بې ثباتیو وروسته د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوه او اسلامي امارت په دې برخه کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د هر ډول اصولي همکارۍ ډاډ ورکړی او په دې برخه کې یې بېلابېلې اسانتیاوې برابرې کړې دي. تېرو څه باندې درېیو کلونو کې په افغانستان کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې برخه کې ښه پرمختګونه شوي دي او په بېلابېلو سکتورونو کې ډېره پانګونه جذب شوې ده. اسلامي امارت د هېوادوالو له پاره په اقتصادي برخه کې ښې برنامې درلودلې او راتلونکي کې هم د بې وزلۍ او بېکارۍ له منځه وړلو او د بهرنۍ او کورنۍ پانګونې د جذبولو له پاره ښې برنامې لري، څو د هېوادوالو اقتصادي وضعیت لا ښه او په هېواد کې اقتصادي وده نوره هم ګړندۍ شي.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د هېواد د اقتصادي بحران د له منځه وړلو له پاره له سیمې او نړۍ سره د مؤثرو اړیکو لرل مهم بللي دي. د هېوادوالو دغه وړاندیز بالکل پر ځای دی. یو هېواد هغه مهال اقتصادي پرمختګ کولی شي چې له نورو هېوادونو سره مثبتې سیاسي او اقتصادي اړیکې ولري او اسلامي امارت دغې مسلې ته متوجه دی. یو هېواد هېڅکله هم په دغه نړیوال کلي کې په یوازې ځان هوساینې او اقتصادي پرمختګ ته نه شي رسېدلی او که د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره مؤثرې اړیکې موجودې نه وي، نو دا به ډېره ستونزمنه وي چې یو هېواد دې په نړۍ کې ښه ځای او موقف ومومي. د تېرې ادارې د له منځه تللو وروسته اسلامي امارت له بهرنیو هېوادونو سره اړیکې له صفره پیل کړې او له درې نیمو کلونو وروسته موږ ګورو چې اوس اسلامي امارت د سیمې او نړۍ له ډېرو

هېوادونو سره مثبتې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري. د منځنۍ اسیا، ایران، ترکیې، روسیې، چین او له یو شمېر نورو هېوادونو سره ښې سیاسي او اقتصادي اړیکې ټینګې شوې او سوداګري پراخه شوې ده. له نورو هېوادونو سره د ښو اړیکو له لارې په هېواد کې ډېره پانګونه جذب شوې او ګڼې پروژې پلې شوې دي، په دې سره په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد او د هېواد اقتصادي وضعیت مثبت لوري ته روان شوی دی.

## پایله

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا له پاره هلې ځلې کوي او د دې له پاره چې د هېواد چارې په منظم ډول پر مخ لاړې شي، نو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري د ملي پراختیا ستراتېژۍ مسوده تایید شوه. دغه مسوده د راتلونکو پنځو کلونو له پاره د نورو سکتورونو تر څنګ د اقتصادي وضعیت د ښه والي له پاره هم ډېرې برنامې لري چې له امله به یې په هېواد کې صنعت وده وکړي، کاري فرصتونه به ایجاد او په ټوله کې به د هېواد اقتصادي وضعیت ورسره ښه شي.

یاده مسوده د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی دفتر ته استول شوې چې له منظورۍ وروسته به نشر او د هېوادوالو تر لاسونو به ورسېږي. هېوادوال دې مطمئن اوسي، هغه وخت چې یاده مسوده منظور شوه، نو اسلامي امارت او د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت به یاده مسوده پلې او تعقیب کړي.

# د اقتصادي کمېسيون له لوري په هرات کې د بام هرات تفريحي کمپلکس جوړولو طرحه تاييد شوه



## سريزه

د اسلامي امارت له راتگ وروسته په هېواد کې د خصوصي سکټور له لوري پانگونې ته ښه زمينه برابره شوه. د تېرې ادارې پر مهال خصوصي پانگوال له ډېرو ننگونو سره مخ و. د اداري ستونزو او فساد څخه نيولې تر امنيتي او تبنتونې ستونزو سره مخ وو او همداراز گڼو پانگوالو په هېواد کې پانگونې ته زړه نه ښه کاوه. د اسلامي امارت له راتگ وروسته پورته ټولې ستونزې حل شوې او خصوصي سکټور ته د پانگونې ښه فرصتونه برابر شول. اوس خصوصي پانگوال، که بهرني دي که کورني، په افغانستان کې له راغلي فرصت څخه استفاده کوي او د سلگونه ميلياردو افغانيو په ارزښت په هېواد کې پانگونه شوې ده او لا هم دوام لري، چې له يوه لوري ورسره په هېواد کې کاري فرصتونه ايجادېږي او له بل لوري په هېواد کې اقتصادي پراختيا رامنځته کېږي.

په هرات کې د خصوصي سکټور له لوري د پانگونې يوه طرحه د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد شوه. هغه غونډه چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، په هرات ولايت کې د خصوصي سکټور له لوري د «بام هرات» تفريحي کمپلکس جوړولو طرحه

په کې تایید شوه.


د دغې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد کمپلکس د جوړولو په موخه څه باندې یو میلیارد افغانۍ پانګونه کوي چې شاوخوا څلورو زرو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

## د اقتصادي کمېسیون له لوري د بام هرات تفریحي کمپلکس طرحې د تایید موخه:

د خصوصي سکټور ملاتړ، د پانګونې جذب او د کاري فرصتونو ایجاد.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د اقتصادي کمېسیون له لوري د بام هرات تفریحي کمپلکس طرحې د تایید» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





## یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د اقتصادي کمېسیون له لوري د بام هرات تفریحي کمپلکس طرحې د تایید خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




## ویب پاڼې





## ټویټر پاڼې




## ویاندویان





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





### ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## اژانسونه




## ویب پاڼې




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د اقتصادي کمېسيون له لوري د بام هرات تفريحي کمپلکس طرحې د تاييد خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوگانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو، وياندويانو، خبري اژانسونو او ايکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۴۴۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۱۸ مثبت دي. ۲۰ منفي نظرونه او ۹ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۳.۵، منفي نظرونه ۴٪ او سالم وړانديزونه ۲.۵٪دي.

۲. د اقتصادي کمېسيون له لوري د بام هرات تفريحي کمپلکس طرحې د تاييد خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوگانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۰٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۹۳ مثبت، ۷ منفي او ٦ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۸٪، منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړانديزونه ۵ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳.۵ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸۸ ده. مگر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۷ او ۵، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۴ او ۲.۵ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۵۱۱ مثبت نظرونه، ۲۷منفي نظرونه او ۱۵ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۲ ٪ مثبت نظرونه، ۵ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، څکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- د بدخشان معدنونه استخراجېږي، خو په بدخشان کې انکشافي پلانونه نشته، ولې د بدخشان خلک سړک، اوبه او برېښنا نه لري.

- ډېر ښه او نېک ګام دی.
- د ننګرهار کمپلکس کار په نیمایي کې پاتې دی، ولې یې غم نه خوري.
- د دې پر ځای باید یو عصري ګمرک جوړ شوی وای، څو د ګاونډیو له احتیاج څخه خلاص شو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې د بدخشان کانونه استخراجېږي، خو په بدخشان کې انکشافي پلانونه نشته او د بدخشان خلک سړک، اوبه او برېښنا نه لري. د دې هېوادوالو په ځواب کې باید ووایو چې د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته یو تر ټولو مهم کار دا وکړ چې د کانونو برخه کې یې شفافیت رامنځته کړ. د تېرې اداري پر مهال به د بدخشان د قیمتي ډبرو کانونه په غېر مسلکي ډول استخراج او قاچاق کېدل، چې یوازې محدود شمېر خلکو ته به یې ګټه رسېده او د بدخشان او نور هېواد اوسېدونکي به د هېواد د دې شریکې شتمنۍ له ګټې څخه بې برخې وو. خو د اسلامي امارت له راتګ سره د بدخشان په ګډون د ټول هېواد کانونه په قانوني او مسلکي ډول استخراجېږي او ګټه یې بدخشان او بیا ټول افغانستان ته رسېږي. د دې تر څنګ، په بدخشان کې انکشافي پلانونه عملي شوي، د ډېرو پروژو عملي کارونه روان دي او ډېرې نورې پروژې په نظر کې نیول شوې دي. د بېلګې په ډول، موده وړاندې د بدخشان امارتي مسوولینو ویلي وو چې په بدخشان کې د ۲ میلیارد او ۷۱۵ افغانیو په لګښت د ۹۵ پروژو چارې عملي او ځینې نورې د عملي کېدو په حال کې دي. یادې پروژې د کرنې، روغتیا، ښوونې او روزنې، طبیعي پېښو او نورو سکټورونو اړوند دي. دغه‌راز، د ۱۴۰۴ کال په پیل کې د بدخشان ولایت په کران او منجان ولسوالۍ کې د یو ښارګوټي د جوړېدو او د ٦٠ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه معیاري ترمینل د جوړېدو چارې پیل شوې دي. د دې تر څنګ، د همدې کال په پیل کې په بدخشان کې د ۲۸ میلیونه افغانیو په لګښت یو کانال بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د واخان د سړک د جوړېدو او پراختیا چارې هم روانې دي او په جرم ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۹ مېګاواټه برېښنا بند د جوړېدو په اړه هم ځینې ګامونه اخیستل شوي دي. دا مو یوازې د بېلګې په ډول ځینې وروستي لوی پرمختګونه یاد کړل، چې په بدخشان کې شوي وو. اسلامي امارت د ټول هېواد پرمختګ ته ژمن دی او د ولایتونو تر منځ توپیري چلند په اسلامي امارت کې هېڅ ځای نه لري.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې د بام هرات تفریحي پارک جوړېدل یو ښه او نېک ګام بللی دی. اسلامي امارت د هېوادوالو خوشالۍ ته ارزښت ورکوي او هڅه کوي هغه څه وکړي چې هېوادوالو ته هوسایي او نېکمرغي راولي. اسلامي امارت په امارتي کچه هم هڅه کوي او خصوصي سکټور ته یې هم زمینه برابره کړې ده، څو په بېلابېلو

سکټورونو کې پانګونه وکړي او هېوادوالو ته کاري فرصتونه ایجاد او د هېواد اقتصادي وده کې خپل رول ادا کړي. له بام هرات تفریحي کمپلکس پروژې وړاندې په هرات او نورو ولایتونو کې هم د خصوصي سکټور له لوري پانګونه شوې او اسلامي امارت په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونې جذبولو ته ژمن دی.

☜ **دریېم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې په ننګرهار ولایت کې د زر بستریز کمپلکس د پاتې کارونو د بشپړولو غوښتنه کړې ده. د دې هېوادوالو غوښتنه پر ځای ده. اسلامي امارت هڅه کوي چې هېوادوالو ته بشپړ او معیاري روغتیایي خدمات ورسوي او دا هم خپل مسوولیت ګڼي چې نیمګړې پروژې بشپړې کړي. اسلامي امارت د هېواد په هغو ټولو ولسوالیو کې د روغتونو جوړولو چارې پیل کړې، په کومو کې چې روغتیایي اسانتیاوې نه وې او هېوادوال له ستونزو سره مخ و. اسلامي امارت ته د هېوادوالو روغتیا ډېره مهمه ده او اوس داسې وخت دی چې اسلامي امارت غواړي خپلو امکاناتو ته په کتو کوچنۍ پروژې پېل او بشپړې کړي، څو هېوادوالو ته ژر روغتیایي خدمات برابر شي او د زر بستریز کمپلکس په څېر لویې پروژې چې ډېر وخت او ډېر کار ته اړتیا لري، هغه پروژې به وروسته پېل او سرته ورسوي.

## پایله

اسلامي امارت په هېواد کې د خصوصي سکټور له لوري د پانګونې ملاتړ کوي او په دې اړه یې د پانګونې له پاره زمینه برابره کړې ده. له نېکه مرغه، د اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې د خصوصي سکټور له لوري پانګونه زیاته شوې او په بېلابېلو سکټورونو کې ګڼې پروژې تر کار لاندې دي.

# د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړه شوې لار نقشه پلې کېږي



## سریزه

د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ له امله د هېواد سوداګریزې چارې غوړېدلې دي او له نږدې او لرې ګاونډیو سره د وارداتو او صادراتو کچه د زیاتېدو په حال کې ده. قزاقستان په سیمه کې افغانستان ته نږدې پروت هېواد دی چې افغانستان ورسره ښې سوداګریزې اړیکې لري. د اسلامي امارت د راتګ په لومړي کال د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ کچه شاوخوا یو میلیارد ډالر وه، خو اوس هڅه کېږي چې دغه کچه شاوخوا درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي. افغانستان له قزاقستان څخه خوراکي توکي په ځانګړي ډول اوړه واردوي او افغانستان بیا قزاقستان ته غېرالکولي مشروبات او نور توکي صادروي. په وروستیو کلونو کې د دواړو هېوادونو تر منځ سیاسي اړیکو هم پراختیا موندلې ده. د همدې سیاسي او اقتصادي اړیکو او همکاریو د لا پراختیا په موخه د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال محترم سریک ژومانګارین کابل ته سفر وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال سریک ژومانګارین او مل پلاوي سره وکتل. دغه لیدنه د ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په لومړۍ نېټه د ارګ په ګلخانه ماڼۍ کې ترسره شوه. د دغې لیدنې پر مهال د دواړو لورو ترمنځ په مختلفو اقتصادي برخو کې د ګډو همکاریو پر پراختیا خبرې وشوې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له قزاقستان سره ګډ مشترکات لري چې د تاریخ په اوږدو کې یې د دواړو هېوادونو پر سوداګریزو اړیکو خورا مثبت اغېز درلودلی او د پانګونې فرصتونه یې زیات کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت له حاکمیت راپدېخوا د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې ورځ تر بلې د زیاتېدو او پیاوړتیا په حال کې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، افغانستان له قزاقستان او د سیمې له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو او سوداګریزو مناسباتو د پیاوړتیا لپاره قوي هوډ لري او په همدې موخه یې په دې وروستیو کې د کابل او استانې ترمنځ درې میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه د لارې نقشې مسوده لاسلیک کړې ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دې لار نقشې په پلي کولو سره به په بېلابېلو اقتصادي برخو سوداګرۍ، کرنې، د کانونو استخراج، ترانسپورټ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته او په اړوندو برخو کې به پانګونه زیاته شي.

محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت چمتو دی چې له قزاقستان سره د افغانستان په کانونو کې د پانګونې موجود فرصتونه شریک او د کرنیزو توکو د حفظ، قرنطین او مالدارۍ برخو کې موافقتنامه لاسلیک کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنځ د بانکي اړیکو د پراختیا او د افغانستان د نفتو ساحو په توسعه او اکتشاف کې پر ګډې همکارۍ ټینګار وکړ. همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د اوسپنې پټلۍ له لارې د هېواد د وارداتو او صادراتو کچې د زیاتوالي په موخه د عملیاتي شرکت په تأسیس کار شروع کړی، چې په لنډ وخت کې به قزاقستان ته ورمعرفي شي. د هغه په خبره، په دې سره به د سیمې هېوادونو ترمنځ د اوسپنې پټلۍ له لارې سوداګریزې چارې نورې هم ګړندۍ شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د سیمې هېوادونو سره په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې همکارۍ ته ژمن دی، په دې اړه اسلامي امارت د څلورو هېوادونو د واحد مرکز اړوند موافقتنامې مسوده چې افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان به یې برخوال وي ترتیب او له قزاقستاني لوري سره یې شریکه کړې ده. همدا راز محترم ملا صاحب د کابل او استانې ترمنځ د پروازونو پر پیل، افغان سوداګرو ته د قزاقستان د ویزو ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو پر رامنځته کولو او د سیمې هېوادونو سره په ګډه جوړېدونکې اقتصادي مجمع کې د افغانستان پر فعالې برخې اخیستو ټینګار وکړ.

ورپسې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال سریک ژومانګارین وویل، قزاقستان د پرمختللي او خپلواک افغانستان ملاتړ کوي اوویني چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کېږي. ژومانګارین زیاته کړه، همدې پرمختګونو ته په کتو د قزاقستان او افغانستان ترمنځ سوداګریزې او اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. نوموړي وویل، قزاقستان د تورغونډۍ – هرات – سپین بولدک اوسپنې پټلۍ پروژې د تورغونډۍ - هرات فاز د عملي چارو د پیل لپاره د ۵۰۰ میلیونو ډالرو پانګونې او همدا راز په هرات کې د دغه پروژې د چارو پرمخ بیولو لپاره د لوجستیکي او ترانسپورټي

شرکت جوړولو ته چمتو دی. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، قزاقستان د یادې پروژې ترڅنګ د انټرنټ لین غځولو پروژې ته هم چمتووالی لري چې له مخې به یې په ارزانه بیه افغانستان ته انټرنټ ورکړي. ژومانګارین وویل، قزاقستاني پانګوال په افغانستان کې په مختلفو برخو په ځانګړي ډول د کانونو، نفت او ګازو کې پانګونې ته چمتو دي او په دې برخه کې یې تخنیکي ټیمونه کابل ته راغلي. د دغه لیدنې پر مهال قزاقستاني لوري افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د پروازونو پیل، بانکي همکاریو، د ترانزیټ او دوه اړخیزې سوداګرۍ زیاتېدو او همدا راز د روغتیا او تعلیم برخو کې ګډو همکاریو ته چمتووالی وښود.


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې پټلۍ په یاده پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیونه ډالرو پانګونې او لوجستیکي او ترانسپورټي شرکت له جوړولو او همدا راز په مختلفو برخو کې د قزاقستاني پانګوالو د پانګونې لپاره د چمتووالي هرکلی وکړ او هغوی ته یې د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړې شوې لار نقشې د پلي کېدو موخه:

د اقتصادي همکاریو پراختیا.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې « د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړې شوې لار نقشې پلي کېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړې شوې لار نقشې پلي کېدو خبر یې په ویډیويي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼي





#### اژانسونه




## ویاندویان





## ټویټرپاڼې




## ویب پاڼې





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## ويب پاڼې





## اژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړې شوې لار نقشې پلي کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویانډویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۲۹۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۱۵ مثبت دي. ۵۶ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۴، منفي نظرونه ۴٪ او سالم وړاندیزونه۲٪دي.

۲. د افغانستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه جوړې شوې لار نقشې پلي کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۲۸ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۹٦ مثبت، ۹۰ منفي او ۴۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۴٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۹۰ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۱ او ۵، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۴ او ۲ ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۹۱۱مثبت نظرونه، ۱۴٦منفي نظرونه او ٦٦ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰ ٪ مثبت نظرونه، ۷ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- هر زیری دې وطن ته خوشحالي وربخښي. هر زېری نړیوالو ته د راتګ د ښو همکاریو زمینه برابروي.
- د افغانستان د بیارغونې له پاره ښه فرصتونه موجود دي.

- ډیر په زړه پورې! افغانستان نور د ځان بسیاینې په لور روان دی. محترم ملا برادر صیب دې خدای ژوندی لري. باید د اقتصاد له پاره مرکزي اسیا ته مخه کړو.
- د افغانستان د موجوده وضعیت د ښه کولو له پاره عالي فرصتونه مخې ته راغلي.
- د افغانستان ستونزې باید د سیمه ییزې همکارۍ له لارې لرې شي.
- صادراتو ته باید پاملرنه وشي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال سره د محترم ملا صاحب لیدنه ګټوره بللې او هغه یې د ښو همکاریو له پاره د زمینې برابرول په ګوته کړي دي. هېوادوالو ویلي چې د بیارغونې له پاره ښه فرصتونه موجود دي. د افغانستان اسلامي امارت چې له کله راهیسې واک ته رسېدلی، نو له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره یې د همکاریو او مشترک کار له پاره ښه زمینه برابره کړه. همدا لامل دی چې هېواد کې بهرنۍ پانګونې او له نورو هېوادونو سره د همکارۍ له پاره پراخ فرصتونه رامنځته شول. د افغانستان اسلامي امارت د قزاقستان په ګډون د منځنۍ اسیا له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي او هڅه کوي چې د دواړو لورو تر منځ په سیاسي او اقتصادي برخو کې ښه همکاري موجوده وي. سره له دې چې قزاقستان له افغانستان سره شریکه پوله نه لري، خو بیا هم د اسلامي امارت له راتګ وروسته د افغانستان او قزاقستان تر منځ همکاري زیاته شوې ده. هڅه کېږي چې د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري زیاته شي او تر درې میلیارد ډالرو پورې ورسېږي. اسلامي امارت د اقتصاد محوره او متوازن بهرني سیاست په لرلو سره بریالی شوی چې د سیمې د ډېرو هېوادونو باور راخپل کړي او همدا لامل دی چې ورځ تر بلې یې د سیمې له هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې او همکارۍ پراخېږي، چې دا د افغانستان د سوداګرۍ، کاري فرصتونو د ایجاد او بېکارۍ کچې کمولو له پاره ډېر مهم دي. د بهرنۍ پانګونې جذب د هېواد د بیارغونې له پاره اساسي اړتیا ده.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو ویلي چې د افغانستان ستونزې باید د سیمه ییزې همکارۍ له لارې هوارې شي. واقعیت همدا دی، که چېرته د هېوادونو تر منځ همکاري موجوده نه وي، نو ستونزې نه حل کېږي او بې باوري او بدنیتي به موجوده وي. نړۍ د یوه کلي حیثیت لري او داسې مثال لري لکه یوه کورنۍ. که چېرته د کورنۍ د غړو تر منځ همکاري او همغږي نه وي، نو چارې سمې پر مخ نه ځي، بلکې چارې او چاپېریال به خراب وي. هېوادونه هم همدغسې دي. که چېرته یو بل سره همکاري او خبرې اترې و نه کړي، د سیاسي مشکلاتو تر څنګ به اقتصادي ستونزې موجودې وي،

چې له امله به يې د حکومتونو تر منځ د اړوند هېواد ولس هم په ستونزو کې ګېر وي. اسلامي امارت په دې عقيده دی چې له ټولو هېوادونو سره بايد همکاري او همغږي ولري او که کومه ستونزه رامنځته کېږي، نو بايد د خبرو له لارې حل شي. موږ او تاسو وينو چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته د افغانستان اړيکې د سيمې د نږدې او لرې ګاونډيو سره پراخې شوې او افغانستان له دوی ټولو سره ښې سياسي او اقتصادي اړيکې لري. اسلامي امارت په دې باور دی چې د سيمه ييزې همکارۍ له لارې کېدلی شي چې سوداګري زياته او د ټاپي او کاسا زر په څېر د انرژۍ او سيمه ييز اتصال لويې پروژې پلې شي، چې له دې لارې به د سيمې د اوسېدونکو ژوند له خوشحالۍ ډک شي. صنعتي فعاليتونه به زيات شي، کاري فرصتونه به ايجاد او د بېکارۍ کچه به راکمه شي. اسلامي امارت نه يوازې د سيمې له هېوادونو، بلکې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره داسې سياسي او اقتصادي اړيکې غواړي چې متقابل احترام په کې موجود وي او د يو بل په چارو کې مداخله و نه کړي. همدا متقابل احترام او د يو بل په چارو کې نه مداخله د ټولو هېوادونو تر منځ د شته همکارۍ د ساتلو او لا پراختيا لامل کېدلی شي. اسلامي امارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د هېڅ هېواد په کورنيو چارو کې مداخله نه کوي او نه به چا ته اجازه ورکړي چې د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله وکړي، بلکې له ټولو هېوادونو سره به د همکارۍ او همغږۍ او سياسي او اقتصادي اړيکو د پراختيا هڅې روانې ساتي.

## پايله:

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره او متوازن بهرني سياست په لرلو سره توانېدلی چې د سيمې د هېوادونو باور راخپل کړي او ورځ تر بلې يې له اسيايي او اروپايي هېوادونو سره اړيکې مخ په پراخېدو دي.

قزاقستان هم يو له هغو هېوادونو څخه دی چې اسلامي امارت ورسره مثبتې سياسي او اقتصادي اړيکې لري او دا اړيکې د لا ټينګښت او پراختيا په حال کې دي. کابل ته د قزاقستان د لومړي وزير د مرستيال سفر او د دواړو لورو له خوا له يو بل سره ژمنې ښيي چې دواړه لوري سيمه ييزې همکارۍ او اقتصادي پراختيا ته ژمن دي.

# کندهار، زابل، هلمند او ارزګان ولایتونو کې د برېښنا ځلورو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې



## سریزه

افغانستان له اوبو، لمر او ګازو څخه د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري، خو په تېر کې له دغه ظرفیت څخه سالمه استفاده و نه شوه او د اشغال او پراخ فساد له امله هغومره چې لازمه وه ډېره برېښنا تولید نه شوه او ډېر هېوادوال له برېښنا څخه برخمن نه شول. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې د برېښنا د تولید او ډېرو هېوادوالو ته د برېښنا د لېږد چارې چټکې شوې. موږ او تاسو ګورو چې د برېښنا د تولید بېلابېلې لویې او کوچنۍ پروژې پیل شوي او ځینې په پلان کې نیول شوي دي. اوسمهال د هېواد په یو شمېر برخو کې د برېښنا د تولید او هېوادوالو ته د برېښنا رسولو پروژې تر کار لاندې دي. د دې له پاره چې د هېواد سویل کې د ډېرو هېوادوالو کورونه د برېښنا له امله روښانه او صنعتي فعالیتونه هم زیات شي، نو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د څلورو پراختیایي پروژو د پاتې چارو پرانېستې له پاره د هېواد سویل ته سفر وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د کابینې یو شمېر محترمو غړو او د کندهار، زابل او هلمند ځایي مسوولینو په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه په کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا دربیو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له همدې امله جوړو شويو مراسمو کې د خپلې وينا پر مهال وويل، دا پروژې د برېښنا په برخه کې ځان بسياينې ته د رسېدو، د نويو کاري فرصتونو رامنځته کولو او زيربنا پياوړتيا پر لور مهم ګامونه دي، چې په مرسته به يې د کجکي بند برېښنا په بشپړ ډول کندهار ته ولېږدول شي. په دې برېښنا سره به کورونه روښانه او صنعت به وده وکړي. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت په کور دننه له موجودو سرچينو د برېښنا د توليد په برخه کې جدي هڅې کوي، چې په همدې موخه يې څه موده وړاندې له خصوصي سکټور سره په بېلابېلو ولايتونو کې د ۲۵۰ ميګاواټه په ظرفيت له لمر، باد او ګازو څخه د برېښنا توليد تړونونه لاسليک کړي دي.

په يادو مراسمو کې ټولو مسوولينو د برېښنا کورني توليد پر پراختيا، د برېښنا نيمګړو پروژو پر بشپړولو، صنعتي، سوداګريزو او کرنيزو برخو ته د اړتيا وړ برېښنا پر رسولو ټينګار وکړ.

په يادو پروژو کې د زابل مرکز قلات سب‌سټېشن او د کندهار ختيځ سب‌سټېشن د پاتې چارو بشپړول او همداراز له کجکي برېښنا توليدي فابريکې څخه د کندهار ختيځ سب‌سټېشن پورې د ۱۱۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي غځول شامل دي.

په يادو پروژو باندې نږدې يو ميليارد افغانۍ لګښت راځي چې سلګونه زره نوي پېرودونکي به له برېښنا برخمن او ډېرو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د يادو پروژو په بشپړېدو سره به د کجکي برېښنا توليدي فابريکې ټوله برېښنا په اساسي ډول جذب او صنعتي، سوداګريزو او کرنيزو سکټورونو ته به د اړتيا وړ برېښنا برابره شي.

دغه راز، د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د ثور مياشتې په نهمه نېټه له کجکي بند څخه د ارزګان ولايت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې پروژه پرانيسته. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، له پاکې انرژۍ څخه د ګټې اخيستنې دا ډول پروژې نه يوازې د اقليمي بدلون پر وړاندې د افغانستان مقاومت زياتوي، بلکې د نړيوال اقليم په پاک ساتلو کې هم لازمه مرسته کوي. د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان له پخوا راهيسې په وارداتي برېښنا متکي دی او د عوايدو زيات رقم د وارداتي برېښنا په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې واردېدونکې برېښنا له يوه لوري قيمته ده او له بل لوري پايداره او دايمي سرچينه نه ګڼل کېږي. له همدې امله له کورنيو سرچينو په غوره ګټې اخيستنې سره د برېښنا توليد دا ډول پروژې کولی شي، چې په تدريجي توګه پر وارداتي برېښنا د افغانستان تکيه راکمه او ځان بسياينې ته يې ورسوي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د پاکې انرژۍ ارزښت ته په اشارې سره وويل، د برېښنا توليد دا ډول پروژې ارزانه سرچينې دي، د مضرو ګازونو د توليد مخه نيسي، د اقليمي بدلون پر وړاندې مبارزه کې مرسته کوي، د برېښنا په برخه کې ثبات او پايداري رامنځته کوي، په هېواد کې د پانګونې مقدار، توليدي ظرفيت او د استخدام کچه لوړوي، د اسعارو د وتلو مخه نيسي او د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نړيوال اقليمي بدلون له وجې افغانستان ته د وررسېدونکو زيانونو په اړه وويل، افغانستان د نړيوال اقليم په تخريب کې هېڅ ډول ونډه نه ده اخيستې؛ خو له بدهمرغه د نړۍ په ځانګړې توګه د لويو صنعتي او توليدي هېوادونو له اقليمي تاثيراتو څخه متضرر شوی. په داسې حال کې چې د اسلامي امارت له حاکميت وروسته د پاکې انرژۍ د توليد ډېری پروژې د نړيوالو سازمانونو له لوري بندې شوې دي، خو د اسلامي امارت له لوري يې يوشمېر بيا پيل او پرانيستل شوې دي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال پر ملګرو ملتونو او د پاکې انرژۍ ملاتړ کوونکو نړيوالو سازمانونو باندې د يو ګډ مسووليت له مخې غږ وکړ، چې له افغانستان سره د پاکې انرژۍ د توليد په برخه کې لازمه همکاري ترسره او د نړيوالو سازمانونو له لوري متوقفې شوې پروژې له سره پيل کړي.


د يادونې وړ ده چې له کجکي بند څخه د ارزګان ولايت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې دغه پروژه د افغانستان برېښنا شرکت په مالي ملاتړ د ۲۰۱ ميليون افغانيو په لګښت پلې کېږي، چې په بشپړېدو سره به يې شاوخوا ۴۵۰۰ کورنيو ته برېښنا ورکړل شي

## په کندهار، زابل، هلمند او ارزګان ولايتونو کې د برېښنا څلورو لويو پراختيايي پروژو د پاتې چارو د پېل موخه:

هېوادوالو ته د برېښنا رسول او کاري فرصتونو ايجاد.

په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «په کندهار، زابل، هلمند او ازرګان ولايتونو کې د برېښنا ځلورو لويو پراختيايي پروژو د پاتې چارو د پېل» خبر يې خپور کړی دی:

### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې په کندهار، زابل، هلمند او ارزګان ولايتونو کې د برېښنا ځلورو لويو پراختيايي پروژو د پاتې چارو د پېل خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ويډيوګانې





### ټويټرپاڼې



## ویب پاڼې





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه




## راډیوګانې





## ورځپاڼې





## ویب پاڼې




## اژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. په کندهار، زابل، هلمند او ارزگان ولایتونو کې د برېښنا څلورو لویو پراختیایي پروژو د پاتې چارو د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په گډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٢٧ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۹۲ مثبت دي. ۲۴ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴٪، منفي نظرونه ۴٪ او سالم وړاندیزونه۲٪دي.

۲. په کندهار، زابل، هلمند او ارزگان ولایتونو کې د برېښنا دربیو لویو پراختیایي پروژو د پاتې چارو د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۳۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۰۳ مثبت، ۱۷۸ منفي او ۴۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۸٪، منفي نظرونه ۱۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۸ ده. مگر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۷ او ۵، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۴ او ۲ ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۹۵ مثبت نظرونه، ۲۰۲منفي نظرونه او ٦۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۲ ٪ مثبت نظرونه، ۱۲ ٪ منفي نظرونه او ٦٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- ښاد او اباد دې وي. تل د دوامدارې سولې په هیله.

- دا یو مهم او مثبت گام دی. که خپل تولید ولرو، نه یوازې به برېښنا ارزانه شي، بلکې د خلکو ژوند هم اسانه کېږي. د دهراوود ولس ته دې مبارک وي.

- تر دې ټولو د کنړ سيند باندې د بند جوړول مهم دي.
- که د افغانستان په هر ځای کې وي، خو چې د ابادۍ او پرمختګ کار کيږي، له زړه څخه بايد هر مسلمان پرې خوشحاله شي.
- خپلې برېښنا توليد دې توجه وشي، څو له وارداتي برېښنا خلاص شو.
- افغانستان کولی شي چې ډېره برېښنا توليد کړي، اسلامي امارت دې بندونه جوړ کړي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې په هېواد کې د سولې د تلپاتې کېدو خبره کړې او د برېښنا توليد او لېږد يې يو مثبت او مهم ګام بللی دی. په هېواد کې دوه وروستيو اشغالونو افغانانو ته ښه ثابته کړه چې اشغال او جګړې د يو هېواد د وروسته پاتې کېدو او اقتصادي پرمختګ د شاته کېدو اصلي لاملونه دي. د شوروي او امريکايي اشغالونو پر مهال افغانستان له سختو سياسي ستونزو سره مخ شو. وژنې، کډوالۍ، ستړياوې او نورې نادودې وې چې هېوادوال ورسره مخ وو. ټولو هېوادوالو دا هيله درلوده چې امريکايي اشغال پای ته ورسېږي او هېواد کې سرتاسري امنيت او سوله راشي. اوس چې افغانستان له امريکايي اشغال څخه خلاص شوی او هېواد کې سوله او امنيت راغلی، نو ټول هېوادوال د خدای تعالی شکر ادا کوي او دعا کوي چې په هېواد کې شته سوله او امنيت تلپاتې شي. په سوله او امنيت کې اقتصادي پرمختګونه رامنځته کېږي. که يو هېواد کې سوله او امنيت وي، نو صنعتي فعاليتونه زياتېږي او کاري فرصتونه ايجادېږي. هغه هېوادونه چې اشغال او جګړه يې تجربه کړې وي، د هغو هېوادونو په نسبت يې اقتصادي وده لړه وي، چې اشغال او جګړه يې نه وي تجربه کړې. له کوم وخت څخه چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی او سرتاسري امنيت ټينګ شوی، نو په هېواد کې په مختلفو سکټورونو کې پرمختګونه رامنځته شوي دي. ګڼې پروژې بشپړې شوي او د يو شمېر نورو پروژو عملي چارې رواني دي. د سولې او امنيت له امله ده چې ډېره کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شوې ده. هېوادوال پوهېږي چې د هېواد پرمختګ په سوله او ارامۍ کې شونی دی. دوی چې د هېواد وروستيو پرمختګونو ته ګوري، نو د سولې او امنيت په نعمت لا ډېر باوري کېږي او د تلپاتې کېدو هيله او دعا يې کوي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې ليکلي چې د خپلې برېښنا توليد ته دې توجه وشي، څو له وارداتي برېښنا خلاص شو. دا ډېر ښه نظر دی. هغه هېوادونه چې خپلې سرچينې يې په کار اچولي او له اوبو، لمر او نورو سرچينو څخه يې برېښنا توليد کړې، نو له يو لوري يې خپله داخلي اړتيا پوره کړې او اقتصاد يې وده کړې او له بل لوري يې اضافي برېښنا نورو هېوادونو ته صادره کړې. که د افغانستان يو شمېر ګاونډيان وګورو، نو دومره برېښنا توليدوي چې اضافه يې

په افغانستان پلوري او له دې لارې هره میاشت ډېر عاید ترلاسه کوي. افغانستان د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري او کولی شي چې د داخلي اړتیا د پوره کولو له پاره کافي برېښنا تولید کړي، خو په تېرو لسیزو کې د اشغال او جګړو له امله افغانستان کافي پرمختګ و نه کړ او د برېښنا سکټور په څېر مهم سکټور کافي وده و نه کړه او همدا لامل دی چې اوس هم موږ خپله یو څه اندازه برېښنا له نورو هېوادونو پېرو او لګښت یې ورکوو. کله چې اسلامي امارت حاکم شو، نو دې سکټور ته یې توجه وکړه. اسلامي امارت په هېواد کې د ټولو هغو پروژو ارزونه وکړه چې چارې یې نیمګړې پاتې وې او یا پیل شوې نه وې، څو د هېواد د اقتصادي ودې له پاره یې چارې پیل کړي. په دې سکټورونو کې یو یې د برېښنا سکټور و. اسلامي امارت له ارزونو وروسته د برېښنا د یو شمېر بندونو چارې پیل کړې. د دې تر څنګ یې په یو شمېر ولایتونو کې د لمریزې برېښنا د تولید ګڼې پروژې پیل کړې. اسلامي امارت افغانستان کې له لسیزو بې ثباتیو وروسته د هېواد د ابادۍ فرصت رامنځته کړ.

## پایله

په هېواد کې د شوروي او امریکا د اشغالونو له امله کافي اقتصادي وده رامنځته نه شو. هغه مهال چې افغانستان په اور کې سوځېد، نو نورو ډېرو هېوادونو د ابادۍ کارونه کول او د پرمختګ په لور یې چټک ګامونه اخیستل. همدا لامل دی چې افغانستان د بهرنیو اشغالونو له امله وروسته پاتې شو. د اسلامي امارت له بیا راتګ وروسته په هېواد کې د بیارغونې ښه فرصت برابر شو. موږ ګورو چې په هېواد کې د ابادۍ ډېرې پروژې پلي کېږي، چې ګڼ کاري فرصتونه یې ایجاد کړي دي.

برېښنا له هغو سکټورونو څخه ده چې افغانستان کې یې کافي وده نه ده کړې. اسلامي امارت دغه سکټور ته توجه کوي او د دې له پاره چې هېواد مو له وارداتي برېښنا څخه خلاص او له خپلو سرچینو څخه سالمه استفاده وشي، نو اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا تولید ته توجه کړې، څو له یو لوري هېوادوالو ته اسانتیاوې رامنځته شي او له بل لوري صنعتي فعالیتونه زیات او کاري فرصتونه ایجاد شي.

# کازان اقتصادي فورم کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ګډون




## سريزه

د (روسيه او اسلامي نړۍ: کازان فورم) شپاړلسمه غونډه د روسيې د تاتارستان جمهوريت په کازان ښار کې جوړه شوې وه، چې د نړۍ له شاوخوا نوي هېوادونو څخه په کې شاوخوا شل زره کسانو ګډون کړی و.

ياد فورم ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يو پلاوي په مشرۍ بلل شوی و. په پلاوي کې د صنعت او سوداګرۍ او ترانسپورټ او هوايي چلند سرپرست وزيران هم شامل وو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د فورم په پرانيستې غونډه کې له ګډون وروسته د تاتارستان جمهوريت له ولسمشر رستم مينيخانوف، د موردويا له ولسمشر ارتيوم زدنوف، په ساختماني چارو کې د روسيې د لومړي وزير له مرستيال حوسنولين او په اقتصادي چارو کې د روسيې د لومړي وزير مرستيال اليکسي اويرچوک په ګډون د يو شمېر هېوادونو له سياستوالو او سوداګرو سره وکتل.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د هېوادونو له مشرانو، استازو او سوداګرو سره په ليدنه کې په افغانستان کې د پانګونې د جذب په موخه د ګازو استخراج او تصفيې، کرنې، اوبو بندونو، لويو لارو، ترانسپورټ او اوسپنې پټلۍ په ګډون په بېلابېلو

سکټورونو کې د شته فرصتونو یادونه وکړه او له هغوی یې وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، ځکه له لسیزو وروسته په هېواد کې د پانګونې له پاره خوندي چاپېریال برابر شوی دی او اسلامي امارت په دې اړه له ټولو پانګوالو سره همکارۍ ته چمتو او د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکوي.

محترم ملا صاحب څرګنده کړه چې افغانستان متوازن او اقتصاد محوره بهرنی سیاست لري او له همدې امله غواړي چې بهرنیو پانګوالو ته زمینه برابره او له هېوادونو سره اقتصادي اړیکې پراخه کړي.


د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره لیدنو کې د تاتارستان، موردوویا، روسیې او نورو هېوادونو مسوولینو او سوداګرو په افغانستان کې د پانګونې ژمنې وکړې او ژمنه یې وکړه چې له افغانستان سره به د اقتصادي اړیکو پراختیا او همکارۍ په برخه کې لازم ګامونه واخلي.

## کازان اقتصادي فورم کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون موخه:

د پانګونې جذب او اقتصادي همکاریو پراختیا

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «کازان اقتصادي فورم کې یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون» خبرونه خپاره کړي دي:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې کازان اقتصادي فورم کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ګډون خبرونه يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپاره کړي دي.


## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### ويب پاڼې




## ویاندویان





## ټوېټرپاڼې




## اژانسونه





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## اژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱ . په کازان اقتصادي فورم کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون خبرونو په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۹۷۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۸٦۴ مثبت دي. ۷۷ منفي نظرونه او ۳۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴٪، منفي نظرونه ۴٪ او سالم وړاندیزونه۲٪دي.

۲. په کازان اقتصادي فورم کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون خبرونو په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۲۴۲ دی. د دې نظرونو له جملې۲۵۳۶ مثبت، ۵۳۱ منفي او ۱۷۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۸٪، منفي نظرونه ۱۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ٦ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۸ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱٦ او ٦، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۴ او ۲ ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۴۴۰۰مثبت نظرونه، ٦۰۸منفي نظرونه او ۲۱۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴ ٪ مثبت نظرونه، ۱۲ ٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- پخوا به په نړۍ کې د افغانستان په اړه د جنګ یا په افغانستان کې د داخلي ګډوډۍ په اړه ترونونه لاسلیک کېدل، خو نن الحمدلله خاص د ابادۍ او پرمختګ تړونونه لاسلیک کیږي.
- ښه ګامونه دي، چې د وطن اقتصاد او خلکو ته به ګټه ورسوي.
- د افغانستان صادرات باید نورو هیوادونو ته ډیر شي.
- ان‌شاءالله پنځه یا شپږ کاله وروسته به داسې وخت راشي، چې بې روزګاره خلک به ډیر کم شي. افغانستان راپورته کیږي د خدای په مرسته.
- که په زرګونو تړونونه هم وشي، بیا به هم د افغانستان وګړي مهاجر وي، بیا به هم پردیو ته مجبور وي بیا به هم تر پښنو لاندې وي.

- ډير ښه. بايد له ډيرو هيوادونو سره داسې تجارتي هوکړې وشي، کانونه استخراج شي، تيل ګاز او داسې نور شيان بايد لاسليک شي، تر څو هېواد د ابادۍ په لور روان شي.
- مشرانو پوره هڅه روانه کړې، تر څو افغانستان له بد اقتصادي حالت څخه راوباسي او هيوادوالو ته کاري فرصتونه برابر کړي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي چې پخوا به په نړۍ کې د افغانستان په تړاو د جګړې او کورنيو ګډوډيو ترونونه لاسليک کېدل، خو اوس د ابادۍ او پرمختګ تړونونه لاسليک کېږي. ريښتيا خبره داده چې شوروي او امريکايي يرغلګرو هېواد ته ډېر زيان ورساوه. ځينې پلورل شوي افغانان له يرغلګرو سره ودرېدل، خو مقابل کې يې اکثريت افغانانو د يرغلګرو پر ضد مبارزه وکړه او هېواد يې ازاد کړ. د دواړو اشغالونو پر مهال به پلورل شويو افغانانو زياتره وخت له اشغالګرو سره د هېواد د ويجاړۍ او جګړې غځولو او يا په هېواد کې داخلي جګړو ته د زمينې برابرولو تړونونه لاسليکول، چې دې کارونو هېواد ته ډېر زيان ورساوه او افغانستان يې ويجاړ کړ. د اسلامي امارت له راتګ وروسته چې هېواد له امريکايي اشغال څخه خلاص شو، نو له ټولو هېوادونو سره د متقابل درناوي او دوه اړخيزو ګټو پر اساس تعامل پيل شو. اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ پر اساس وړاندې ځي او هڅه کوي چې له ټولو هېوادونو سره داسې تړونونه لاسليک کړي چې افغانستان ته پرمختګ او هوساينه راوړي. د هېوادوالو له تبصرو ښکاري چې د هېواد اشغال سخت ځورولي او د داسې يو حالت هيله يې درلوده چې هېواد له اشغال څخه خلاص او سرتاسري سوله راغلې وي. اسلامي امارت له بريا وروسته د هېوادوالو دغه هيله پوره کړه او داسې يو وضعيت يې رامنځته کړ چې ټول هېوادوال په کې ارامه ساه اخلي، خپل ژوند او روزګار کوي. دوی وينې چې اسلامي امارت د هېواد د ګټو او هېوادوالو ته د اسانتياوو برابرولو له پاره هڅې کوي او داسې تړونونه لاسليکوي چې هېواد ته په سياسي او اقتصادي برخه کې لاسته راوړنې لري.

- **دويم:** يو شمېر هېوادوالو ويلي چې څو کاله وروسته به په هېواد کې د اوسنۍ بېکارۍ کچه ډېره ټيټه وي او ډېر هېوادوال به په کار بوخت وي. که د اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې اقتصادي فعاليتونو ته وګورو، نو جوتېږي چې راتلونکو څو کلونو کې به د هېواد اقتصادي ودې پراختيا تر څنګ د بېکارۍ کچه تر ډېره بريده راکمه شوې وي. اسلامي امارت له خپلې بوديجې او د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب په مرسته ډېرې پروژې پيل کړې دي، چې زرګونو هېوادوالو ته په کې د کار زمينه برابره شوې ده. دې کار په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو کې د پام وړ رول لوبولی دی. واقعيت دادی چې په هېواد کې بېکاري يوه ستونزه ده، خو اسلامي امارت په خپل ټول توان هڅه کړې چې کاري فرصتونه ايجاد کړي. که د کاري فرصتونو د ايجاد په اړه د اسلامي امارت هڅو ته وګورو، نو د دغو

هېوادوالو دا نظر به د خدای تعالی په مرسته ښځي سم ثابت شي، چې څو کاله وروسته به په هېواد کې د بېکارۍ اوسنۍ کچه کې ډېر ټیټوالی راغلی وي.

☜ **درېیم:** ځینو هېوادوالو په خپل خبرو کې ویلي، که هر څومره ترونونه لاسلیک شي، نو بیا به هم د افغانستان وګړي مهاجر وي. که تېرو څو لسیزو ته وګورو، نو اشغال او اقتصادي ستونزو هېوادوال له ډېرو ستونزو سره مخ کړل. د اشغال، وژنو، چاپو او نیولو له وېرې ډېر هېوادوال نړدې او لرې هېوادونو ته مهاجر شول. اقتصادي ستونزې بل هغه څه وو چې ګڼ شمېر هېوادوال یې هېواد پرېښودو ته اړ کړل. اسلامي امارت چې واک ته ورسېد، نو هېواد کې سرتاسري امنیت راغی او ګڼې پراختیایي پروژې پېل شوې. دغه امنیت او پراختیایي پروژو د هېواد په اقتصادي وده کې د پام وړ رول لوبولی دی. د څلورو لسیزو اشغال، ویجاړۍ او اقتصادي ستونزې ژر نه حل کېږي، وخت غواړي، خو اسلامي امارت تر خپله وسه هڅه کړې او کوي یې چې د وروستیو لسیزو اقتصادي ستونزو ته حل لارې پیدا کړي. اسلامي امارت غواړي چې اقتصادي ستونزې حل او مهاجر هېوادوال بېرته هېواد ته راستانه شي. د دې له پاره یې بېلابېلې پراختیایي پروژې پېل کړې او نورې په پلان کې دي چې ورسره به په هېواد کې اقتصادي پرمختګونه رامنځته، کاري فرصتونه به ایجاد او مهاجرو هېوادوالو ته به د بېرته راتګ زمینه برابره شي او د نورو هېوادونو د ابادۍ پر ځای به د خپل هېواد په ابادۍ کې ونډه واخلي.

## پایله

په کازان ۱۶م فورم کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ګډون به د هېواد له پاره مثبتې اقتصادي پایلې ولري. محترم ملا صاحب په یاد فورم کې د بېلابېلو هېوادونو له مسوولینو او سوداګرو سره ولیدل. له هغوی یې په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې د پانګونې غوښتنه وکړه. مقابلو اړخونو په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونې ته لېوالتیا ښوده. تمه ده چې دغه سفر کې شوې ژمنې به تعقیب او پلې شي، چې په پلي کېدو سره به یې په هېواد کې اقتصادي وده او کاري فرصتونه رامنځته شي.

اکثریت هېوادوال کازان ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر ته خوشبین دي او تمه لري چې د یاد سفر د پایلو له امله به هېواد کې اقتصادي وده نوره هم چټکه شي. هېوادوال هیله‌من دي چې د اسلامي امارت مشرتابه به د دوی هیلې پوره کړي او شته ستونزې به اسلامي امارت د خپلو پالیسیو په پایله کې له منځه یوسي.

# په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې چارې پيل شوې




## سريزه

د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا توليد کچې زياتولو له پاره هڅې کوي، څو له يوې خوا پر وارداتي برېښنا د تکيې کچه راکمه شي او له بلې خوا هېوادوالو ته برېښنا برابره او صنعتي ساحو ته د برېښنا په ورکړې سره په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته او کاري فرصتونه ايجاد شي. په هېواد کې د برېښنا د توليد ډېرې سرچينې شته، چې يوه يې لمر ده. افغانستان شاوخوا ۳۰۰ ورځې لمر لري او اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا د کمښت ستونزې د کمولو له پاره له دې سرچينې څخه استفاده وکړي. په هېواد کې د لمريزې برېښنا يوشمېر پروژې پېل شوي او ځينې په پلان کې نيول شوي دي. همدغه ډول د لمريزې برېښنا د توليد يوه پروژه په لغمان ولايت کې پېل شوه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ کال د جوزا مياشتې په لومړۍ نېټه په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو د پېل پرانيسته وشوه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شويو مراسمو ته وويل، دا د خوښۍ ځای دی چې نن په لغمان ولايت کې د پاکې انرژۍ د توليد په برخه کې يو مهم ګام اخلو، دا به نه يوازې د اقليمي بدلون پر وړاندې د دې سيمې مقاومت لوړ کړي، بلکې د پاکې او پايښت لرونکې انرژۍ په برخه کې به هم د هېواد اړتيا تر يوه حده پوره کړي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د برېښنا سکټور په برخه کې خودکفایی ته د رسېدو په موخه د دې پروژې په څېر مهم گامونه  اخیستي چې دا نه یوازې د برېښنا د تولید؛ بلکې د ملي اقتصاد، کورنۍ او بهرنۍ پانگونې د جلب او جذب، د کاري فرصتونو د ایجاد او هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو په برخه کې مهم گام دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، څه موده وړاندې د هېواد په کچه د برېښنا د تولید د اوو مهمو پروژو قراردادونه لاسلیک شول چې مجموعي ظرفیت یې څه باندې ۲۲۸ میگاواټو ته رسېږي. دا د هېواد په کچه د برېښنا د تولید په برخه کې یو بې ساری گام دی چې دا پروژه یې هم برخه ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لغمان ولایت کې د لس میگاواټه لمریزې برېښنا پروژې د پیل مراسمو ته وویل، د اسلامي امارت اقتصادي ستراتیژي پر دې ولاړه ده څو هېواد له بهرنۍ اړتیا خلاص او د خپلو موجودو کورنیو ظرفیتونو پر مټ خودکفایی ته ورسېږي. دا چې برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې د ملا تیر بلل کېږي، په همدې موخه د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسیو په سر کې ځای لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د افغانستان ډېره تکیه پر وارداتي برېښنا ده چې دا نه یوازې قیمته تمامېږي، بلکې له هېواد څخه په زیاته اندازه د اسعارو د وتلو عامل هم گرځي. له همدې امله د برېښنا دا ډول پروژې کولی شي چې هېواد په تدریجي ډول د برېښنا په برخه کې خودکفایی ته ورسوي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال  په هېواد کې د اقتصادي او پانگونې پروژو د پیل او بشپړولو له پاره امنیت تر ټولو مهم وباله او پانگوالو ته یې په دې برخه کې د اسلامي امارت له لوري پوره اطمینان ورکړ. محترم ملاصاحب له پانگوالو وغوښتل چې په افغانستان کې په مختلفو په ځانگړي ډول د برېښنا سکټور کې پانگونه وکړي. اسلامي امارت په دې برخه کې ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې او د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټه کوښښ کوي چې په هېواد کې د پانگونې پروسې لنډې او پانگوالو ته اسانتیاوې برابرې کړي.


د یادونې وړ ده چې په لغمان ولایت کې د لس میگاواټه لمریزې برېښنا پر پروژه د خصوصي سکټور له لوري شپږ میلیون ډالر پانگونه  کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې د سیمې اوسېدونکو د برېښنا ستونزه تر یوې اندازې حل او صنعتي فعالیتونه به ورسره پراختیا ومومي.

## په لغمان ولایت کې د لس میگاواټه لمریزې برېښنا پروژې د چارو د پېل موخه:

د انرژۍ تولید او پر وارداتي برېښنا د تکیې کمول

## په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو د پيل» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو د پيل خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنی


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:**

۱. په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې بریښنا پروژې د چارو د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٨٨ دی. د دې نظرونو له جملې ٦٥٧ مثبت دي. ۲۰ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۵، منفي نظرونه ٪۳ او سالم وړاندیزونه٪۲دي.

۲. په لغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزي بريښنا پروژې د چارو د پيل خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۵۲٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۵۱ مثبت، ۵٦ منفي او ۱۹ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸٦٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړانديزونه ۳ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸٦ ده. مګر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۱۱ او ۳، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۳ او ۲ ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۱۰۸ مثبت نظرونه، ۷٦ منفي نظرونه او ۳۰ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۱ ٪ مثبت نظرونه، ٦ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړانديزونه دي.

**په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:**

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- په شلو کلونو کې د ډالرو باران کې چا داسې کار و نه کړ، خدای تعالی مهربان دی چې اسلامي امارت به يې وکړي.
- ډېر ښه او پر ځای ګام دی. موږ کولی شو چې د لمر او باد څخه بريښنا توليد کړو.
- خلک د عمل منتظر دي، لسيزې کېږي چې شعارونه ورکول کېږي.
- په کار ده چې د هېواد په ټولو برخو کې بهر ته تلونکې اوبه مهار شي او د بريښنا له پاره ترې استفاده وشي.
- اوس د افغانستان په ټولو ولايتونو کې له تېرې اداري څخه د بريښنا نظام ښه شوی دی.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې ويلي چې په شلو کلونو کې د ډالرو باران کې چا داسې کار و نه کړ . بلکل! واقعيت دا دی چې د امريکايي اشغال پر مهال ميلياردونه ډالر افغانستان ته راغلل، خو په تېره اداره کې فساد د دې لامل شو چې د بهرنيو مرستې په سمه توګه مصرف نه شي. موږ ګورو چې د هغومره ډېرو پيسو په راتلو سره هم

په هېواد کې د برېښنا د تولید له پاره کافي ګامونه وانخیستل شول او ډېره تکیه پر وارداتي برېښنا وه. اسلامي امارت چې له کوم وخت څخه حاکم شوی، نو د برېښنا تولید یې د هېواد د اقتصادي ودې له پاره په لومړیتوبونو کې نیولی او د برېښنا د تولید له پاره یې د اوبو بندونو جوړولو تر څنګ د لمریزې برېښنا تولید ته توجه کړې ده. موږ ګورو چې په وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د لمریزې برېښنا د تولید یو شمېر پروژې پرانیستل شوې. سره له دې چې بهرني بندیزونه شته او هغومره مرستې چې د امریکایي اشغال پر مهال کېدې، اوس نه کېږي، خو اسلامي امارت بیا هم هڅه کوي، څو خپل ټول امکانات په کار واچوي او د کورنۍ تر څنګ د بهرنۍ پانګونې په جذب سره په هېواد کې برېښنا تولید کړي. اوسمهال بهرنۍ مرستې نشته، خو اسلامي امارت له بهرنیو مرستو پرته لګیا دی. د هېواد د ابادۍ او بیارغونې پروژې پلې کوي، څو هېوادوالو ته اسانتیاوې برابرې او اقتصادي پرمختګ رامنځته شي.

☜ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ویلي چې خلک د عمل متنظر دي، لسیزې کېږي چې شعارونه ورکول کېږي. د دې هېوادوالو دا خبره پر ځای ده. هېوادوال د کابل د تېرې ادارې له شعارونو ستړي شوي وو. دوی په هغه وخت کې لیدل چې شعارونه ورکول کېدل او عمل نه کېده. هېوادوال د تېرې ادارې د ناکردو او غولوونکو انتخاباتي شعارونو تجربه لري. خو اسلامي امارت داسې نه دی. د شعار پر ځای عمل کوي. موږ او تاسو ګورو چې په تېرو څلورو کلونو کې اسلامي امارت یوازې د اوبو د مهارولو په اړه اساسي ګامونه پورته کړي دي. اسلامي امارت یوازې شعارونه نه دي ورکړي، بلکې په عملي ډول یې د اوبو د مهارولو او لمریزې برېښنا د تولید ګڼې پروژې پیل کړې او ځینې په پلان کې نیول شوې چې راتلونکي کې به یې چارې پیل شي. د دې ترڅنګ، موږ ګورو چې د سړکونو د جوړولو او بیارغونې برخه کې هم اساسي کارونه روان دي. د لویو لارو جوړول او د سیمه ییز اتصال پیاوړي کول د اسلامي امارت مهمه موخه ده. د یادو دوه سکټورونو ترڅنګ د کانونو، کرنې او نورو سکټورونو کې هم یوازې شعارونه نه دي ورکړل شوي، بلکې عملي ګامونه پورته شوي دي.

## پایله

اسلامي امارت د اشغال له خاتمې او واک ته له رسېدو وروسته د هېواد د بیارغونې او پرمختګ له پاره اساسي کارونه پیل کړل. دا ټولو د لمر په څیر روښانه ده چې په بېلابېلو سکټورونو کې پراختیایي پروژې پیل شوې دي. د لمریزې برېښنا ګڼې پروژې تر کار لاندې دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې هېواد کې د برېښنا تولید زیات کړي، څو له یوه لوري په وارداتي برېښنا د تکیې کچه راکمه شي او له بل لوري په هېواد کې اقتصادي وده ګړندۍ شي.هېوادوالو د اسلامي امارت له کړنو رضایت څرګند کړی او هیله لري چې اسلامي امارت د کابل د تېرې ادارې په څېر شعارونه ور نه کړي، بلکې عمل وکړي. هېوادوال دې په اسلامي امارت باور ولري. اسلامي امارت یوازې شعارونه نه ورکوي، بلکې عمل کوي او په بېلابېلو سکټورونو کې پای ته رسېدلې او تر کار لاندې پروژې د دې ښه ثبوت دی چې اسلامي امارت له شعار څخه ډېر عمل کوي او د هېواد ابادۍ ته ژمن دی.

# د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو




## سریزه

د هېواد د اقتصادي ودې او بېکارۍ کچې کمولو له پاره صنعت ډېر اړین دی. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان پر یو صنعتي او صادراتي هېواد بدل کړي. په هېواد کې د ثبات له راتلو وروسته صنعتي فعالیتونو ته ښه فرصتونه برابر شول. د نندارتونونو جوړول د کورنیو تولیداتو د بازار موندنې او خرڅلاو له پاره ډېر مهم دي. په همدې موخه په کابل کې د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون جوړ شوی و چې د اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولینو په کې ګډون کړی و. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل کې د صنعت اوونۍ د څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیسته وکړه. دغه نندارتون د ۱۴۰۴ کال د جوزا میاشتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغانستان نړیوال نندارتون په مرکز کې پرانیستل شو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند صنعت د هر ملت د پرمختګ اساس یاد کړ او ویې ویل، موږ نن ورځ د هغو هېوادونو شاهدان یوو چې یوازې د صنعتي انقلاب له برکته یې خپل زېربنایي بنسټونه قوي کړي، بې‌کاري یې له منځه وړې او خپلو تولیداتو ته یې ښه مارکېټونه پیدا کړي دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د صنعت اوونۍ یوازې سمبولیک عنوان نه، بلکې دا د یوه حرکت، بدلون او قوي عزم څرګندونه کوي، چې موږ باید له وارداتي اقتصاد څخه تولیدي، صادراتي او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد لوري ته ولاړ شو.


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره سم د صنعت سکټور د پام وړ پرمختګ کړی. د اسلامي امارت له راتګ وروسته بیا تر دې دمه شاوخوا ۱۵۰۰ نوې فابریکې جوړې شوې، چې له امله یې نږدې اویا زره هېوادوالو ته د دایمي کار زمینه برابره شوې ده. اوسمهال افغانستان په ۱۳۸ صنعتي او تولیدي سکټورونو کې خودکفایی ته رسېدلی، دغه پرمختګ نه یوازې د بېکارۍ د کمولو په برخه کې مهم ګام بلل کېږي، بلکې د اقتصادي ثبات او پیاوړتیا لپاره هم بنسټیز ارزښت لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د صنعتي کېدو له پاره په بېلابېلو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو جوړېدو ته لومړیتوب ورکړی، چې په نږدې ورځو کې به په صنعتي ساحو کې صنعت‌کارانو ته د ځمکو د ملکیت سند د ورکړې شاهدان واوسو. دا صنعتي پارکونه به نه یوازې د تولید له پاره چاپېریال برابر کړي، بلکې لسګونه زره هېوادوالو ته به د کار زمینه هم مساعده کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. د دې تر څنګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت شوی، چې په خپلو خریداریو او تدارکاتي پروسو کې کورنیو تولیداتو او محصولاتو ته لومړیتوب ورکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو او محصولاتو په پرتله څه نا څه ټیټ وي. د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندراتون په مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې ده. دا مهال د برېښنا، کانونو، کرنې، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیا او ګڼو نورو سکټورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو عملاً پانګونه کړې او په دې برخه کې ورته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي. محترم ملا صاحب صنعت‌کاران د هېواد د اقتصاد جوړولو اساسي ځواک وباله او د صنعت په برخه کې یې د هغوی د هڅو او نوښتونو ستاینه وکړه. هغه زیاته کړه:« تاسې په خپلو تولیداتو کې د کیفیت، قیمت او کمیت تضمین راکړئ، زه له همدې ستېجه وعده درکوم چې د کورني تولید د ملاتړ په موخه به له بهر څخه پر ورته واردېدونکو اقلامو د خودکفایی په اندازه تعرفه لوړه کړو.» د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون د هېواد د ملي صنعت د وړتیاوو، ظرفیتونو او لاسته راوړنو د معرفي کولو په موخه جوړ شوی و، چې سلګونو کورنیو شرکتونو پکې د خوراکي توکو، درملو، لبنیاتو، ساختماني توکو، لاسي صنایعو، غالیو، پلاستیک، بټریو جوړولو، اوسپنې ویلې کولو او لسګونو نورو برخو کې خپل صنعتي تولیدات او کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې کړل. دغه نندارتون یوه اوونۍ دوام وکړ.

## د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون د پرانیستلو موخه:

کورنیو تولیداتو ته بازار موندنه.

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د صنعت اوونۍ ځلورم ملي او نړيوال نندارتون د پرانيستلو» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د صنعت اوونۍ ځلورم ملي او نړيوال نندارتون د پرانيستلو خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې




### اژانسونه





### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




### ویب پاڼې




### خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### اماراتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشل شوې دي: اماراتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱ . د صنعت اونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون د پرانیستلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په اماراتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په اماراتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦۱۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۳ مثبت دي. ۲۲ منفي نظرونه او ۱۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۵، منفي نظرونه ٪۳.۵ او سالم وړاندیزونه ٪۱.۵دي.

۲. د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړيوال نندارتون د پرانيستلو خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۹۱۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۸۵ مثبت، ٦۱۷ منفي او ۲۰۹ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۷٪، منفي نظرونه ۳۲ ٪ او سالم وړانديزونه ۱۱ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۵۷ ده. مګر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۳۲ او ۱۱، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۳.۵ او ۱.۵ ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱٦٦۸ مثبت نظرونه، ٦۳۹ منفي نظرونه او ۲۱۹ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ٦٦ ٪ مثبت نظرونه، ۲۵ ٪ منفي نظرونه او ۹٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- ښه کار دی. لومړی بايد برېښنا وي، څو صنعتي ښارګوټي فعاليت وکړي. کله چې برېښنا نه وي، نو هېڅ پانګوال فابريکه نه جوړوي، صنعتي ښارګوټي برېښنا او سون توکو ته اړتيا لري.
- د صنعت ملي نندارتون دکورنيو توليداتو د پرمختګ او اقتصاد د پياوړتيا په لور مهم ګام دی. د خصوصي سکټور او د صنعتي پارکونو د ملاتړ لپاره وروستي ګامونه د هېواد د صنعت لپاره ښه زيري لري.
- ښه کار دی، خو لومړی بايد د برېښنا ستونزه حل شي.
- فابريکې خو جوړې شوې دي، خو کيفيت او قيمت ته يې توجه په کار ده. اجناس په لوړ قيمت او ټيټ کيفيت بازارته عرضه کوي.
- ډير ښه ګام دی،خو حکومت بايد صنعت کارانو ته نور د اړتيا وړ ضرورتونه لکه برېښنا او خامو موادو ته ازاد لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي او د زراعتي محصولاتو له پاره مونږ بايد د هېواد په کچه سړې خونې ولرو.

- اول باید په کور دننه بازار ته په کافي کچه د ورته تولیداتو عرضه تضمین شي. د عرضې نه غیر که په بهرنیو تولیداتو تعرفه لوړه شي، په بازار کې بیا د همغه اجناسو بیه هم لوړیږي چې تاوان یې پیرودونکیو ته رسیږي.
- په وارداتو تعرفه لوړیدل د حل لار نه ده، داخلی تولیدات چې کیفیت ولري او په مناسب قیمت یې وپلوري واردات په خپله واره نه کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ویلي، لومړی باید برېښنا وي، څو صنعتي ښارګوټي فعالیت وکړي. هغوی زیاته کړې چې د برېښنا ستونزه باید حل شي. واقعیت دادی چې برېښنا د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره ډېره مهمه ده. د برېښنا له امله صنعتي فعالیتونه زیاتېږي، چې ورسره د بېکارۍ کچې کې کموالی راځي. اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزه درک کړې او همدا لامل دی چې له اوبو، لمر او باد څخه یې د برېښنا تولید ته مخه کړې ده، څو صنعتي ښارګوټو ته د اړتیا وړ برېښنا برابره شي. په دې وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د برېښنا د تولید د پروژو شاهدان یوو. اسلامي امارت باور لري چې په هېواد کې د برېښنا تولید به د نویو فابریکو او صنعتي فعالیتونو د زیاتوالي لامل شي. اسلامي امارت غواړي چې افغانستان له وارداتي هېواد څخه په صادراتي هېواد بدل کړي او د دې لپاره برېښنا او د صنعتي فعالیتونو زیاتېدل ډېر مهم دي. دغه راز، افغانستان کې په ځینو برخو کې په کافي اندازه خام مواد هم موندل کېږي او د دې لپاره چې دغه خام مواد د هېواد دننه پروسس شي، نو برېښنا او د صنعتي فعالیتونو زیاتېدا ته اړتیا ده. اسلامي امارت د برېښنا تولید ته لومړیتوب ورکوي او د صنعتکارانو ملاتړ هم کوي. اسلامي امارت تر اوسه د صنعتکارانو د ملاتړ او صنعتي فعالیتونو د غوړېدا په موخه یو شمېر صنعتي ښارګوټو ته د برېښنا کچه زیاته کړې او تمه ده چې د برېښنا د تولید له زیاتېدا سره به صنعتي ښارګوټو ته د برېښنا کچه نوره هم زیاته شي.

☜ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې ویلي چې د فابریکو د تولیداتو کیفیت او قیمت ته توجه په کار ده. بلکل! هغه څه چې د هېواد په فابریکو کې تولیدېږي، نو باید کیفیت ته یې توجه وشي. که چیرته ښه کیفیت لرونکي توکي تولید نه شي، نو هېوادوال به داخلي تولیدات و نه پېري، بلکې د کورنیو تولیداتو پر ځای به بهرني توکي واخلي، چې دا به د هېواد د فابریکو وضعیت خراب او صنعتي فعالیتونه به کم رنګه کړي. که چېرې موږ ښه کیفیت لرونکي تولیدات ولرو، نو ډېر پېردونکي به ولرو، چې دې سره به هېواد ته د واردېدونکو تولیداتو مخه ونیول شي او هېوادوال به کورني تولیدات وپېري. اسلامي امارت دغې چارې ته متوجه دی او د سټنډرډ عالي شورا په همدې موخه فعالیت کوي، څو د کورنیو تولیداتو کیفیت له نړیوالو معیارونو سره برابر کړي . د اسلامي امارت بېلابېل ارګانونه وخت نا وخت په فابریکو

او بازارونو کې د توليدات له کيفيت څخه ډاډ حاصلوي. کله چې په هېواد کې معياري توليدات ولرو، نو هېوادوال به د بهرنيو توليداتو پر ځای خپلو کورنيو توليدات ته ارزښت ورکړي، چې له امله به يې د هېواد اقتصاد پياوړی شي.

☜ **دريېم:** ځينو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي، که چېرته د هېواد داخلي توليدات کيفيت ولري او په مناسب قيمت يې وپلوري، واردات په خپله کمېږي. پانګوال بايد د هېوادوالو غوښتنې په نظر کې ونيسي او د خپلو توليداتو کيفيت ته ډېره توجه وکړي. ځکه که چېرته پانګوال د خپلو پېرودنکو غوښتنې په نظر کې و نه نيسي، نو له ستونزو سره به مخ شي. د دې تر څنګ، مهمه ده چې پانګوال قيمتونه هم په نظر کې ونيسي. ښه توليدات دې په مناسبه بيه بازار ته وړاندې کړي، څو کاروبار يې په بازار کې وغوړېږي. د دغو هېوادوالو دا خبره بلکل پر ځای ده چې که چېرته په هېواد کې ښه کيفيت لرونکي توليدات په مناسب قيمت وپلورل شي، نو د نورو هېوادونو وارداتو سره به په بازار کې سيالي وکړي. دغه کار د هېواد د اقتصادي ودې له پاره هم مهم دی. اسلامي امارت هم هڅه کوي چې هېواد ځان بسياينې ته ورسېږي او پر يو صادراتي هېواد بدل شي.

## پايله

ننداړتونونه د يو هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم دي. د ننداړتونونو له لارې صنعتکاران خپلو توليداتو ته بازار موندنه کوي. د افغانستان اسلامي امارت بېلابېل وزارتونه او ادارې هڅه کوي چې د ننداړتونونو له لارې د هېواد صنعت پياوړی کړي. په هېواد کې د اقتصادي ودې او صنعتي فعاليتونو لپاره تر ټولو مهم د برېښنا موجوديت دی. که چېرې په کافي اندازه برېښنا موجوده وي، نو صنعتي فعاليتونه به زيات وي. د هېوادوالو يوه مهمه غوښتنه په هېواد کې د برېښنا توليد ده. د هېوادوالو له نظره، برېښنا د هېواد د اقتصادي ودې له پاره مهمه ده. اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا اړتيا درک کړې او هڅه کوي چې د صنعت د پياوړتيا له پاره له کورنيو سرچينو څخه برېښنا توليد کړي. د دې له پاره يې د اوبو، لمر او باد څخه د انرژۍ د توليد هڅې پيل کړې دي، چې ورسره به په هېواد کې د برېښنا د اړتيا کچه تر ډېره بريده پوره شي. دغه راز، اسلامي امارت په هېواد کې د توليداتو کيفيت ته هم ژمن دی او هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د بې کيفيته توکو د توليد مخه به نيسي.

# په هرات کې د برېښنا دوې پروژې پرانیستل شوې




## سریزه

افغانستان له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري. پر اوبو سربېره له لمر او باد څخه هم د برېښنا د تولید له پاره ښه استفاده کېدای شي. د اوبو برېښنا په نسبت لمریزه او بادي برېښنا ارزانه پرېوځي او دغه دواړه د اوبو برېښنا برعکس په لږ لګښت جوړ او لږ وخت کې ګټې اخیستنې ته سپارل کېدای شي. هېواد کې د برېښنا اړتیا ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد له سرچینو ګټه پورته او هېوادوالو او صنعتي ښارګوټو ته کافي برېښنا برابره کړي. په وروستیو کې په بېلابېلو ولایتونو کې د برېښنا د تولید پروژې پېل شوې، څو له یوې خوا په وارداتي برېښنا تکیه راکمه او له بلې خوا ډېرو اقتصادي فعالیتونو ته زمینه برابره شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ کال د جوزا میاشتې په لسمه نېټه په هرات ولایت کې د ۴۳.۲ میګاواټه بادي او پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا تولیدي پروژې پرانیستل شوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو ته وویل، په هرات ولایت کې د بادي او لمریزې برېښنا د دوه مهمو پروژو د پرانیستې شاهدان یوو، چې دا د هېواد د انرژۍ سکتور د پراختیا، عصري کېدو او خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا پروژې به نه یوازې پر وارداتي برېښنا د هېواد اتکا راکمه کړي، بلکې د چاپېریال ساتنې، دوامدارې انرژۍ او نوې ټکنالوژۍ د ترویج لپاره به هم فرصتونه برابر کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان له اوږدې مودې راهیسې په وارداتي برېښنا متکي دی او د هېواد د ملي بودیجې یوه لویه برخه هر کال د وارداتي برېښنا د پېرلو لپاره لګول کېږي.


د هغه په خبره، وارداتي برېښنا له یوه لوري قیمته ده او له بل اړخه په اوږدمهال کې دا چاره ډاډمنه او ګټوره نه ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د برېښنا سکټور په برخه کې له کورنیو ظرفیتونو پر سالمې ګټې اخیستنې تمرکز کړی او په دې برخه کې جدي هڅې کوي. نوموړي زیاته کړه، د دغو پروژو له لارې به نه یوازې د برېښنا د تولید ظرفیت لوړ شي، بلکې د هېواد اقتصادي پرمختګ، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د کورنیو او بهرنیو پانګوالو هڅونه او د زېربناوو پراختیا ته به هم لاره هواره شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته یو ځل بیا ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو په ځانګړي ډول د برېښنا سکټور کې د پانګونې لپاره اسانه شرایط رامنځته او په دې برخه کې یې شفاف او امن چاپېریال برابر کړی دی. پانګوال کولی شي له دې فرصت څخه پوره استفاده وکړي. محترم ملا صاحب د یادو پروژو له قراردادي شرکتونو څخه وغوښتل چې چارې یې د منلو شوو معیارونو په پام کې نیولو سره په ښه ډول پرمخ بوځي. د یادونې وړ ده چې د خصوصي سکټور او افغانستان برېښنا شرکت له لوري د ۴۳.۲ میګاواټه بادي برېښنا پر پروژه څه باندې ۶۴ میلیون ډالر او پر پنځه میګاواټه لمریزه برېښنا پروژه شاوخوا ۳.۵ میلیون ډالر پانګونه کېږي.

### په هرات کې د برېښنا د دوو پروژو د پرانیستې موخه:


په وارداتي برېښنا د تکیې کمول او اقتصادي وده.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «په هرات کې د برېښنا د دوو پروژو د پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې په هرات کې د برېښنا د دوو پروژو د پرانيستې خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




## وياندويان




## توبېرپاڼي





## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه





## راډيوګانې




## ورځپاڼې





## اژانسونه





## ويب پاڼې




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. په هرات کې د برېښنا د دوو پروژو د پرانيستې خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، وياندويانو او ايکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۷۵۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۲۲ مثبت دي. ۲۱ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۵، منفي نظرونه ۳٪ او سالم وړانديزونه ۲٪دي.

۲. په هرات کې د برېښنا د دوو پروژو د پرانيستې خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويب پاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۹۳۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۶۳۹ مثبت، ۲۰۷ منفي او ۸۶ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۵٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړانديزونه ۴ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸۵ ده. مګر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۱۱ او ۴، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۳ او ۲ ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۳۶۱ مثبت نظرونه، ۲۲۸ منفي نظرونه او ۱۰۰ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۸۸ ٪ مثبت نظرونه، ۸ ٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- افغانستان کې بادي برېښنا ډېره زياته ښه پايله ورکوي، ځکه افغانستان کې هر وخت هوا چلېږي.
- که تصميم لرئ، نو په کاپيسا او پروان کې داسې څو ځايونه شته چې ډېره هوا لري.
- که سترګې پرې څوک پټې نه کړي، نو شلو کلونو کې دومره کار نه و شوی، لکه دا څلورو کلونو کې چې وشو. الله تعالی دې افغانستان نور له جنګونو وساتي.

- هر څوک چې دې خاورې ته خدمت کوي، نو موږ به یې د پښتو خاورې شو. موږ له هر څه وړاندې د ابادۍ او پرمختګ تږي یوو، ځکه ځلور لسیزې مو ډېر زیان ولید. د یو اباد افغانستان په هیله.

- دا د افغانستان د انرژۍ په برخه کې د خپلواکۍ او دوامدار پرمختګ پر لور یو الهام بښونکی ګام دی. په بادي او لمریزې برېښنا پانګونه نه یوازې چاپېریال ته ګټه رسوي، بلکې د هېواد اقتصاد او راتلونکی هم پیاوړی کوي. ټولو هغو کسانو ته چې دا پروژه یې ممکنه کړه، مبارکي وایم!

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ویلي چې په هېواد کې بادي برېښنا ډېره ښه پایله ورکوي. هو! په هېواد کې د بادي برېښنا تولیدولو ډېر ظرفیت موجود دی او د شمېرو پر بنسټ په هېواد کې په زیاته اندازه برېښنا تولیدېدلی شي. د هرات، فراه، نیمروز او پروان په ګډون یو شمېر ولایتونو کې د بادي برېښنا د تولید ښه فرصتونه شته چې کېدلی شي د هېواد د برېښنا اړتیا پوره کړي. په هېواد کې د کافي برېښنا نه شتون یوه لویه ستونزه ده، خو د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا تولید زیات کړي، څو د برېښنا زیاتوالي سره لا ډېرو اقتصادي فعالیتونو ته زمینه برابره او کاري فرصتونه زیات شي. اسلامي امارت په هرات کې د بادي برېښنا د تولید پروژه پیل کړه او د خدای په فضل سره به په راتلونکي کې د بادي برېښنا نورې پروژې په نورو ولایتونو کې پیل شي. برېښنا د نن ورځې اساسي اړتیا ده او اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد له سرچینو څخه به د برېښنا د تولید له پاره ګامونه پورته کوي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ویلي چې په شلو کلونو کې دومره کار نه و شوی، لکه په تېرو څلورو کلونو کې چې وشو. واقعیت دا دی چې په هېواد کې بهرنۍ اشغال او فساد د هېواد د اقتصادي ودې مخه نیولې وه، خو کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد او بهرنی اشغال او فساد ختم شو، نو په هېواد کې د سرتاسري امنیت په راتلو سره د ابادۍ چارې ګړندۍ شوې او اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې له پاره له بهرني ملاتړ پرته اساسي ګامونه پورته کړل. په بېلابېلو سکټورونو کې ډېرې پروژې پیل شوې. د کرنې، سوداګرۍ، مخابراتو، ټرانسپورت، زیربنا او نورو سکټورونو کې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پروژې عملي شوې. هېوادوال چې د هېواد د ابادۍ په تړاو د اسلامي امارت هڅې ګوري، نو د خدای تعالی شکر ادا کوي چې ریښتیا هم د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د ولس خادمان واک ته رسېدلي او د ولس د سوکالۍ له پاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي. همدا لامل دی چې هېوادوال له اسلامي امارت څخه خوشاله دي او مننه ترې کوي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو په خبرو کې ويلي چې بادي او لمريزه برېښنا به هم چاپېريال ته ګټه ورسوي او هم به د هېواد اقتصاد پياوړی کړي. نوې کېدونکې انرژي به د چاپېريال له پاره ډېره ګټوره وي. د هوا ککړتيا کې رول نه لوبوي او پاکه انرژي توليدوي. نن ورځ چې د اقليم بدلون او هوا د ککړتيا موضوع په نړۍ کې مهمه موضوع ګرځېدلې او ډېرو هېوادونو ته يې سرخوږی پېداکړی، افغانستان کولی شي چې د پاکې او نوې کېدونکې انرژۍ د توليد له لارې خپل چاپېريال پاک وساتي او له دې لارې له اقليمي زيانونو څخه ځان وساتي. دغه راز، لکه پورته چې مو هم اشاره درلوده، برېښنا د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېره مهمه ده. د هېوادونو صنعتي فعاليتونه په برېښنا چلېږي او که برېښنا نه وي، نو د يو هېواد صنعت به وده و نه کړي چې له امله به يې بېکاري زياته او هېواد به وارداتي اقتصاد ولري.

## پايله

افغانستان له بېلابېلو سرچينو څخه د برېښنا د توليد ډېر ظرفيت لري. اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد له اوبو، باد، لمر او نورو اړونده سرچينو څخه د برېښنا د توليد له پاره استفاده وکړي، څو د برېښنا د توليد په زياتېدو سره اقتصادي فعاليتونه زيات او کاري فرصتونه ايجاد شي. ډېرو هېوادوالو د برېښنا د توليد په برخه کې د اسلامي امارت هڅې ستايلي دي. هېوادوالو له اسلامي امارت څخه مننه کړې چې د خپلې واکمنۍ په شاوخوا څلورو کلونو کې يې هغه کړنې سرته ورسولې، چې د کابل تېرې ادارې په شلو کلونو کې نه وې کړې. اسلامي امارت هڅې کوي چې د برېښنا تر څنګ په ټولو سکټورونو کې بېلابېلې پروژې پلې کړي، څو د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ او په بېلا بېلو سکټورونو پر ځان بسيا شي.

Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

dpmea.gov.af @FDPM_AFG fdpm_afg